افغانستان کې د امریکا ناکامه جګړه

مورچل

اتم کال لومړی ګڼه ، پرلپسې (۶۵) مه ، ربیع الاول ۱۴۳۵ هـ ق . جنوری ۲۰۱۴ م

پدې ګڼه کې :

دمقدساتو سپکاوی نه توجیه کیدونکی جرم

ددینې مشایخو شهادتونه څه په ګوته کوي

د اسلامي تاریخ دیوه نوماند شهکار خاطره

والي تخار محترم مولوي بازمحمد (حمیدي) د مصاحبې اختصاصي با ماهنامه مورچل :

اصول تنافي اسلام و سکولاریسم

وقتی از دفاع انجیل به دفاع قرآن پرداختم

د پوهانو خبرې

مورچل

اتم کال لومړۍ ګڼه، پرلپسې ٦٥مه ،ربیع الاول ۱۴۳۵هق ،جنوری ۲۰۱۴م

علمي،سیاسي اوجهادي میاشتینۍ خپرونه

ګڼه	مطلب	مخ
۱	افغانستان کې دامریکا ناکامه جګړه	۱
۲	شتاب در تهاجم ، تعلّل در فرار	۳
۳	دمقدساتو سپکاوی نه توجیه کیدونکی	۵
۴	ددیني مشایخو شهادتونه څه په ګوته کوي ؟	۷
۵	کرزیه! ټینګ شه!.....	۱۰
۶	والي تخار محترم مولوي بازمحمد(حمیدي)..	۱۳
۷	دشرعي او غیر شرعي امیر تر منځ توپیر	۱۹
۸	ذبیح الله مجاهد	۲۷
۹	دمورچل دار الافتاء	۳۰
۱۰	داسلامي تاریخ دیوه نوماند شهکار خاطره.....	۳۴
۱۱	ددعوت ،ارشاد، جلب اوجذب کمیسیون.....	۳۹
۱۲	داسلام غزوات او سرایا	۴۱
۱۳	المرتضی دامیر المؤمنین علی ابن ابي طالب ...	۴۵
۱۴	جنګي جنایتونه (جنوري)	۴۹
۱۵	دجهاد فقهي مسایل	۵۳
۱۶	اصول تنافي اسلام و سکولاریسم	۶۳
۱۷	امریکا په اوسنۍ نړۍ کې.....	۶۵
۱۸	وقتی از دفاع انجیل به دفاع قرآن پرداختم....	۶۹
۱۹	د پوهانو خبرې	۷۷
۲۰	راغلې لیکونه	۷۹
۲۱	میاشتني خبرونه	۸۱
۲۲	انځوریز مورچل	
۲۳	د تلفاتو میاشتنی جدول	

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګی چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

شکور (شفق)

کتنپلاوی :

حسن خېل، ایوب صافی،
حسن زوی ، حکمت بغلانی،
زبیر مسافر، حافظ سعید

تخنیکي همکاران :

ارغـــوان ـــ صابر

مکاتباتي ادرس :

پته : کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر

E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحیم

سرمقاله

افغانستان کې د امریکا ناکامه جګړه

د امریکا په نښیلاکګر هیواد کې تازه نظرپوښتنه ښیي، چې د امریکایانو غوڅ اکثریت افغانستان کې د خپلو عسکرو جګړه ناکامه او په فوري توګه د ډې هیواده د امریکایی پوځیانو وتل غواړي ، د (سي این این) تلویزیون او (او آر سي) له لوري په یوه تازه نظرپوښتنه کې ویل شوي ،چې ۸۲ فیصده امریکایانو په افغانستان کې د امریکایانو له پوځي شتون سره مخالفت کړی ،چې دا د پنځه کاله پخوا په پرتله په سلو کې (۲۴) زیات دی.

سي این این وایي، د نظرپوښتنې پایلې ښیي، چې په افغانستان کې د امریکا دوولس کلن پوځي حضور د امریکا تر ټولو نامحبوب پوځي عملیات دي او اکثره امریکایان د دې غوښتونکي دي، چې امریکایي پوځیان دې د ۲۰۱۴ زکال تر دسمبر مخکې له افغانستانه وایستل شي، د (سي این این) د نظرپوښتنې مشر (کیتینګ هولنډ) وویل:«دا نظرپوښتنه ښیي چې د افغانستان جګړه تر نورو شخړو خورا لږ ملاتړ کوونکي لري، د عراق له جګړې سره مخالفت هیڅکله تر ۲۹ فیصدو زیات شوی نه و، د ویتنام د جګړې په مهال هم د جګړې د مخالفو امریکایانو فیصدي دومره نه وه لوړه شوې، په هماغه وخت له ګلپ په مرکو کې په هرو لسو کسانو کې شپږو د جګړې مخالفت کړی و.»همدا سې یو بلې اداره (یو ایس توډې پیو ریسرچ سنټر) هم د جنورې د ۱۵ او ۲۰ نیټې ترمنځ یوه نظرپوښتنه کړې ،چې زیاتو امریکایانو ورته ویلي چې د افغانستان جګړه افغانستان کې ناکامه ده .....له وروستیو نظرپوښتنو دا سي ښکاري ،چې د افغانستان له جګړې سره د امریکایانو ملاتړ مخ په کمښت دی ،ځکه چې اکثره یې فکر کوي ،چې دا جګړه ناکامه ده،نو باید نور ورته د پای ټکی کښیښودل شي اوژر تر ژره د امریکایي پوځیان د ډې هیواده راوایستل شي.

بلې خواته امریکایي حکومت د کابل ګواډګیانو ته پرله پسې ګوتځنډنې کوي ،چې که د امنیت په نوم د افغانستان سره د امریکایانو د تلپاتې میشتیدنې تړون لاسلیک نشي ،نو ګوندې خدای جل جلاله مکړه افغانستان باندې به کومه توره بلا نازل شي او تاسو ټول به وخورې ، ددوئ په آند چې ددې تنکی ولسواکی ځواني به خاورې ایري شي ،اودا دومره لاسته راوړنې به په سیند لاهو شي ،دنا تو یهودي المذهب سرمنشي (راسموسن)هم یوې خبرې غونډه کې ویلې چې که کرزی دا د(وطن پلورنې وثیقه)سند لاسلیک نکړي ،نو ګوندې حامد کرزی له سره اور سره لوبې کوي !!

اوس پوښتنه داده !! چې امریکایان ولې افغانستان کې دخپلې فزیکي او پوځي بقا پر سر د کابل له واکمنو سره چنی وهي ،پداسې حال کې چې خپل زیات ولس یې ددې پوځي شتون پر خلاف دبغاوت غږ جګوي ،خودوئ خپل غوږونه پرې کاڼه کړي اوددې هیواد څخه دوتلو هوډ نه ښیي ؟

ښایې ځواب یې ډیر ښکاره اوهغه ددوئ استعماري ارادې اوښکیلاکي عزایم وي ،امریکایان او ملګرې هیوادونه یې ،چې زمونږ خپلواک هیواد ته له دومره مدرنو وسلو ،ځغرو الوشوبلو ،جنګي الوتکو او سمندري پوځ سره راتلل، همدا اوږده ښکیلاکي اراده اودخپل پوځ دتلپاتې شتون اهداف ورسره لا له پیله ملهوه ،خودولسونو داغفال لپاره یې ډول ډول بهانې او حیلې جوړې کړې وي ،اوس چې دحقیقت میدان راغی ، نو ددوئ عزایم یو په بل پسې بربنډ یږي او دوئ یې نور دپټولو ځواک نلري ،که داتړون وشي که ونشي ،دمجاهدینو څخه په غیربل کوم داسې مادي یا اوسپنیز ځواک نشته، چې غربیان له هیواده په زور وباسي ،همدا اوس دادی ددوئ دپوځ طویل المدت چمتوالی له چا پټ ندی، او هرځوک پوهیږي ،چې امریکان څه غواړي !!؟

داسې ډیر کرزیان به لاړ اوراشي ،خو ښکیلاکګر به د لیزري وسلو په مټ پاتې وي ،خوهغه تاریخي خیانت چې دشمال ائتلاف ،کرزي ډوله عناصرو اوپه مجموع کې ،ټولو بې ضمیره وطن پلورو ټوپکوالو وکړ ،هغه په (۲۰۰۱ز) کال کې داسلامي امارت پرخلاف داشغالګرو دعوتول او دخپلواک اسلامي هیواد په اشغال کې ددوئ سره عملي مرسته وه، چې پیړۍ پیړۍ وروسته نسلونه به دداسې ګوډاګیانو دقبرونو شناختې په تیږو وولې اودا جرم به یې معاف نکړي.

خو ترکومه ځایه چې دافغان مسلمان ولس او اسلامي امارت پورې اړه لري ،هغه دخپل هیواد دآزادۍ او اسلامي نظام هغه زړه راکښونکې ازانګه ده، چې دخپلو مجاهدو اسلافو څخه په وراثت کې ورته پاتې او تر پلې کولو پورې به یې دوسله وال جهاد هوډ اونه ستړې کیدونکې مبارزه په ځپو وي ، کوم زورګیر مادي ځواک به یې ځپې خاموشه نکړای شي او انشاءالله تعالی دوینو په نذرانو به دحریت پالې جهادي مقاومت بهیر ګړندې ساتې او تر بشپړې فتحې پورې به دمجاهدینو دقافلو دقیادت جرس وي !

شتاب در تهاجم، تعلّل در فرار

ابوصهیب حقانی

در سال ۲۰۰۱ م که امریکای جنایت پیشه، علیه مظلومیت ملت رنجدیده افغان، به بهانه واهی مبارزه علیه تروریزم، جنگی تمام عیار براه انداخت و هیچ فرصتی برای تحقیقِ حقیقت، ملاحظه ننمود و از عجله و شتاب کار گرفت؛ آن زمان دولتمردان وقت امریکا، هرگز فکر نمی کردند که سرانجام، روزی به عاقبت سیاه آن حرکت نامیمون شان گرفتار خواهند شد. آنها، افغانستان را فیصله شده می پنداشتند و اکثریت ملت شریف و غیّور افغان را بر تعدادی وطنفروش و افغان نما، قیاس می کردند که جز سمعنا و اطعنا کاری نخواهند داشت، ملت افغان را محتاج، تصور می نمودند

که با اندکی متاعِ پُر زرق و برق خارجی ها ذلیل می شوند و تمام خواسته های نامشروع و سُلطه گرانه آنها را با جان و دل می پذیرند، ملت مومن افغان را زندانی و محبوس می پنداشتند که با تسلط بر خاک آن دیار، این ملت رنجدیده را از قید بندها و رنج ها آزاد و رها می سازند؛ خلاصه بطور قطع، امریکا بدون شناخت کافی از ابعاد کلی زندگی و خصوصیات منحصر به فرد این قوم آزاده، در حمله نظامی بالای سرزمین و ملت افغان، بسیار از عجله و شتاب کار گرفت و با همگام ساختن دیگر قدرت های (ظاهری) جهان، و نیز با همکاری و همیاری همه جانبه چند تن اجیران وطنفروش، افغانستان را به اشغال خود در آوردند و به مشوره غلامان حلقه به گوش خود، دست به هرجنایت و خیانتی که دل شان خواست زدند؛ خانه های بسیاری از افغانهای مظلوم را بمباردمان کردند، انسانهای زیادی، قربانی حمله های وحشیانه و ددمنشانه سربازان و عساکر جنایتکار اشغالگران شدند؛ دلهای بسیاری از وطنداران مظلوم، داغدار گردیده و کوه های غم و اندوه، پُشت سرهم بالای شانه های نحیف و ضعیف ملت رنجدیده افغان، انباشته شدند و...

اما، پس از تهاجم غرب به سر کردگی امریکا در افغانستان، اوضاع کُلّا بر خلاف جهت و منظور دشمنان رقم خورد و کاملا برعکس تصور آنها، همه نیرنگ ها و حیله گری های غرب مکار و امریکای حیله گر، نقش برآب شده و افغانستان بر خلاف خواسته و آرزوی دشمنان، به مکانی جز آنچه که آنها، تصور می کردند تبدیل گردید، رویای خوش آمریکا در افغانستان به کابوس وحشتناک مبدل شد، بیشتر از آنچه که گمان کرده بودند جنگ افغانستان ادامه یافت؛ و رفته رفته در خلال این جنگ، بجای افغانستان این

امریکا بود که به طرف زوال و نابودی، سقوط و افول، حرکت کرد و فیصله و نابود شد؛ و جز وطنفروشان فرصت بین، قاطبهء ملت افغان، شریف، غیور، وطندوست، آرمانی، سلحشور و مجاهد به چَشم آمدند که هرگز لحظه ای حضورِ اشغالگرانه غرب متجاوز را تحمل کرده نمی توانستند، و گاهی بخاطر متاع پُرغرض کفر مکار، کُرنش ننموده و گردن کج نکردند و مردانه وار به همه دالرهای هدفمند دشمنان، باغیرت مثال زدنی پُشت کرده و دنیای پُر زرق و برق خارجی ها را ناچیز و دون، دانسته و به آزادی و استقلال کشور خود بالیده و افتخار می کردند؛ اینجا بود که آمریکا دانست چه غلط بزرگ، و اشتباه جُبران ناپذیری در مورد افغانستان مرتکب شده و خود را آماده هر نوع شکست و ذلت نمود؛ آمریکا، اگر بر مظلوم ترین های سرزمین افغانستان، ظالمانه ترین کارهای تاریخی را روا داشت؛ ولی این یک حقیقت روشن است که فرزندان واقعی وطن، و مجاهدین راستین راه عزت و آزادی نیز با حمله های تاکتیکی، منظم، دقیق و به موقع، بالای مواضع خاص دشمنان، در جای جای وطن، چنان ضرباتی کوبنده، بر پیکر فرسوده طاغوت اشغالگر وارد کردند که جبران آنها، برای دشمنان از ناممکنات روزگار گردیده وآنقدر جنازه و نعش، (ازعساکر وحشی صفت) روی دست اشغالگران گذاشتند که سران استکبار خود مستقیم یا غیر مستقیم، به شکست و ذلت فاحش خویش اعتراف نمودند...

و اما امروز که یوم فرار و خروج با ذلت دشمنان، فرارسیده و بیش از یک دهه اشغالگری، امریکا و قوای مشترک بین المللی به هیچ امید شاخص نرسیده و مصارف جانی و مالی که هزینه جنگ افغانستان شده را بالاتر از تحقق اهداف شان می بینند؛ از راه تواضع، صبوری، تعلّل و تاخّر کار می گیرند و دنبال فرصت مناسب و دلیل قناعت بخش و قابل پذیرش همه، می گردند؛ آمریکا، همانطور که برای تهاجم، بهانه ی ساختگی درست نمود؛ در صدد آنست که برای بیرون رفت از بحران افغانستان نیز بهانه داشته باشد و –به اصطلاح –آبرومندانه فرار کند؛ اما غافل از اینکه، در تعریف کلمه "فرار" آبرو، هیچ مفهومی ندارد و هرقسمش چه با دلیل و یا بی دلیل، بی آبرویی کامل است؛ اینکه تبلیغات وسیع، تحت مذاکرات و امضای توافق امنیتی با حکومت دست نشانده براه انداخته جزو همین پروسه فرار آبرومندانه است، اینکه اوباما، در تعداد مشخص عساکر باقیمانده پس از سال ۲۰۱۴ م در افغانستان، تا این اندازه با مشاورین نظامی و افسران اردوی خود تشکیل جلسه داده و چانه زنی می کند، اینکه مدام می گویند از یک کاندید خاص در انتخابات نام نهاد پیش رو حمایت نمی کنند، اینکه از طریق رسانه ها و مطبوعات جهان به دروغگویی علیه مجاهدین می پردازند و از صُلح پنهانی بین مجاهدین و حکومت اجیر، حرف به میان می آورند، اینکه اسناد حقیقت شکست را از برخی مقامات نظامی خود در افغانستان نادیده می گیرند و دقیقا از واقعیت ها طفره می رود، اینکه مقامات پنتاگون تحت فشار سناتورها از بودجه و مصرف جنگی در افغانستان همواره مورد استیضاح و بازپرسی قرار می گیرند و ... همه این موارد، بخشی از حیله های امریکا، جهت دفع شکست در جنگ افغانستان است که خوشبختانه، هیچ یک از موارد فوق تا حال جواب نداده و هرگز در آینده نیز جواب نخواهد داد. ان شاءالله!

و نیز این تعلل در فرار، پس از شتاب در تهاجم، خود دلیلی واضح مبنی بر شکست است که آمریکا نمی خواهد اشتباه ۲۰۰۱م را مرتکب شود؛ در حالیکه تعلل در ۲۰۱۴ م خود یک اشتباه بزرگ است که امریکا در آینده با مضرات جبران ناپذیر آن مواجه خواهد شد؛ ولی آن وقت دیگر دیر است؛ مثل آنکه امروز برای جبران اشتباهات دیروز آمریکایی ها بسیار دیر شده است!!!

به امید رسوایی های بیش از پیش امریکا و دشمنان اسلام در افغانستان مظلوم

دمقدساتو سپکاوی نه توجیه کیدونکی جرم

میوند سادات

امریکایې یرغلګرو پرافغانستان دتیري له پیل څخه تراوسه پوري په بې شمېره توګه داسلامي شعایرو اومقدسه اماکنو سپکاوی دلته ترسره کړی دی. نیواکګرو دتېروخت په دوام تېره اوونۍ یوځل بیا د مسلمانانو معنویات ژوبل کړل، په جسماني توګه یې شکنجه کړل، تهدید یې کړل ،بندیان یې کړل، کورونه په وحشیانه ډول ورتلاشي کړل.

دنوي میلادي کال دلومړۍ میاشتي په ۲مه نیټه اشغالګرو ځواکونو دداخلي عسکرو په ملتیاد میدان وردګ ولایت دسیدابادو لسوالۍ دشینزدرې پرسیرک کلي دچاپې پرمهال لومړی دخلکو کورونه تلاشي کړي بیادکلي جومات ته تللي دمسجد اوقران عظیم الشان بې عزتي یې کړې

.

عیني شاهدانو رسینوته ویلي چې یرغلګرواوکورنیو عسکرودکورنود پلټنې پرمهال سپین ږیري، زنانه اوماشومان له خپلوکورونوڅخه وتلوته اړایستلي اودژمي په سړه هواکي یې ترسهاره ترشنه اسمان لاندي په داسي حال کي شپه تېره کړې چې دامریکایې وحشي عسکرواوداخلي چاکرانودټوپکوشپیلیواولیزرونوته یې دمظلومیت سترګې نیولې وې. نورو عسکروبیاپه دغه شپه دپلټنې په پلمه دجومات صحن تخریب کړی، دمسجد په الماریوکي دقران کریم اوسورت یس ګڼې نسخې یې پرمځکه غورځولي اوپاڼې پاڼې کړې ، همدارازدسیمه ییزوخلګوله خولې ویل شوي ،سهارچې دوی جومات ته ورغلل وحشي عسکروپه یادشوي جومات کي چې دحاجي هزارګل په نوم مشهوردی ګندګي هم کړې اومسجدیې بیخي په بل مخ اړولی ؤ.

داشغالګرواوداخلي اجیرانوپریادشوي وحشت اوجنایت نه ارګمشر(کرزي)دتمساح اوښکي توی کړې اونه هم په اصطلاح ازادواوناپېیلورسنیو همدې سترجنایت ته پام وړکتنه وکړه، دهمدې لوی وحشت سره مطبوعاتو داسي سوړچلندوکړ فقط لکه یوه داسي وړه اوعادي پېښه چې رامنځته شوي وي چې په یادولوونه ارزي.

همدا پيښه كه دكابل اداري چلونكو ،ناپيلي ميډيا؟ !اوغرب زده ګانو ته پام ورړوي يانه ،خو افغان ولس ته دومره لويه خواشينونكي پيښه ده چي دعاملينو دمحاكمي پرته يې په بل هيڅ ډول دتوجيه اوقناعت ورنه ده، خلګو داشغالګرواوكورنيو عسكرودد غه كرغيړن عمل پرضد په مظاروالس پوري كړاودكندهار- كابل لويه لاريې داعتراض اواحتجاج په توګه ترلې وه چي ديادي شوي پيښي عاملينو ته دې سزاوركول شي.

په ډيرتاسف سره چي دكابل اداري چارواكو، يرغلګرو، اوبې شمېره مدني اوبشري ټولنواوبنسټونو دهمدې پيښي غندنه څه چي پرې دخواشيني څرګند لوزحمت !!هم ونه ايست هو !دې ته وايې بشري حقوق ،دبيان ازادي اوډيموكراسي !.

ښه شوداخبره اوس لمرغوندي روښانه شوه چي څوك داشغالګروپه شتون كې دخپلومقدساتواومنافعودساتني خوبونه ويني په فوق العاده ډول غوليدلي وو اودي، ښايې اوس دوی هم په هوش شوي وي چي لويديځ په تېره امريكاچي دبيان ازادي ،بشري حقونواو.....نارې سورې وهي يوازي او يوازي دخپل ځان اوځاني ګټولپاره ، نه ده ټول انسانيت لپاره ،ځكه نړيوالوولیدل چي ليبيايې دبشري حقونو ،بيان ازادي اوډيموكراسي څخه دسرغړوني په جرم په كروزتوغندیواوكلسټربمونولوليه كړه،معمرقذافي يې په همدې ګناه ووژله، خوپه يمن اومصركي يې ددوی دهمدې يادوشووارزښتونوناقضينو(علي عبدالله صالح اوسيسي والو)ته مالي ،اخلاقي،پوځي اوسياسي مرستي پيل كړې،دلته بيا ټول هغه ارزښتونه !!چي نه عملي كيدل يې دمخالفينودرانسكورلولپاره مجوزګڼل څه خبره نه ده چي ددوی دګوډاګيانولەلوري ترپښولاندې شي.

څومره لويه تېروتنه ده چي دهمدې متعصبينو، جابرانواوظالمانوڅخه دسولي، عدل اوخير خواهي تمه كيږي، څومره دافسوس ځای دی چي دهمدې نړيوالوجنايتكاروڅخه دامن تمنااوغوښتنه كيږي اوپه همدې خيال پلونووسره دامنيتي اوستراتيژيک تړون په نوم دغلامي سندونه منل كيږي.

يرغلګروكه دلته هرډول جنايتونه اوخرمستي وكړې ،په مقابل كې يې دافغان ولس مجاهدوبچيانوهم ددوی لوی اوواړه بيسونه ورنسكورکړل ،لوړرتبه اوعادي عسكريې دهلاكت كندې ته ورټېل وهل ،يعني الله تعالى دمجاهدينوپه لاس يرغلګروته داسي سخت اونه هيريدونكي عذابونه ورکړل چي تل به يې دعبرت سرمشق وي.

د دیني مشایخو شهادتونه څه په ګوته کوي؟

جمیل میړنی

په دې نیږدي ورځو کې دګاونډي هیواد پاکستان دکویټي په ښارکې دوه تنه زبده ، جیداو مجاهد علمای کرام ،شیخ الحدیث مولوي عبدالسلام اوبل شیخ القران مولانا عبدالله ذاکري نورالله مرقدهما ، یوپه بل پسي داسلام دکرغیړنو دښمنانو له لوري دبریدنښه وګرځیدل اوپه ډیرقساوت یې شهیدان کړل.

ددغو دوستروعلمي اوروحاني شخصیتونه لویي ځانګړتیاوي اوکارنامي داوي چې دژوندټوله برخه یې دالله تعالی ددین په اشاعت ،درس ، تدریس اوداسلامي شعایروپه ساتنه اوپالنه مصرف کړه ، افغان ولس اواسلامي امت یې داسلام ددښمنانو له فریبونو ، دسایسو اوحربو څخه په هروخت کې باخبره ساته اوترټولوښکاره اوتل پاتی ویاړیې داوو چې دروسي اوامریکایي دواړویرغلونوپه مقابل کې دافغان مظلوم ولس ترڅنګ لکه غرونه ودریدل ، دجهاداومبارزي سنګرونه یې تاوده وساتل اودیرغلګرو ژامي یې دموثروجهادي فتواووپه زریعه ماتي اوکړي وګرځولي .

ښکاري داسلام اوافغانیت ددښمنانوپه سترګوکې دیادودیني مشایخوهمدغه جهادي اوافغاني کارنامي دسترګواغزي ګرځیدلي واودهغوی په پلیدوزړونوکې یې خنجرونه وهلي

و ، چې بالاخره يې دخپلواجيرانوپه مرسته دروحانيت ، تقوا اوجهاددد غودنګومنارونودنړيولوفجيع عمل ته لاس اوږدکړ.

داسلام دلاري ددغوځلنده مشالونوددياانت اوامانت داری کچه بائيدلدې نه معلومه کړل شي چې دشهادت له نيتي څخه يوه ورځ وړاندې مرحوم شيخ صاحب عبدالله ذاکري په خپل وصيت کې ځامنوته ويلي و چې په ټول عمر کې ترې صرف يولمونځ قضاشوی ، هغه هم دجهادپه مهال اودالله په فضل يې دبيت المال يوه روپی اويوه پيسه هم په غبن اوغصب نده ترلاسه کړي ، نوکه چيرې هغه شهيد شوپه قاتلينوپسې يې مه ګرځی ،ځکه د هغه قاتلين لکه لمرځرګندا وښکاره دي چې امريکايان اودهغوی اجرتي مزدوران دي !!

دمرحوم ذاکري صاحب پورته قيمتي کرښې ددې خبرې لوی حجت دی چې داستکبارپه لاس دشهيدوشوو مشايخو يواځينی جرم !دهغوی ديني اوملي غروراوپه اسلامي ټولنه کې يې اغيزمن رول اومحوري کردارردی.

يعني شيخ ذاکري اوشيخ عبدالسلام رحمهم الله ، نه له چاسره شخصي اوذاتي خصومت درلود ، نه يې دقدرت سيالي اوکشمکش هدف وو ، نه يې دماديا تو اوشهرت غوښتنه لرله اونه دکوم بهرني هيواد داستخباراتو غړي ول ، بلکې صرف دخارجي يرغل مخالفت يې کاوه ، داسلامي شعايرو اواسلامي تهذيب دفاع يې په ځغرده کوله اومسلمان ولس ته يې دوحدت اوخيرخواهي ذهنيت ورباښه .

دشيخ عبدالسلام رحمه الله په ولس کې دمحبوبيت اندازه تردې حده وه چې په جنازه کې يې ديولکوپه شاوخواکې افغانانواوانصاروعاموسلمانانوبرخه اخيستي وه ، په ولس کې دشيخ صاحب ددومره ژوري مينې علت دانه وچې مرحوم کوم لوی سياسي منصب درلود ، فوځي غښتلی قومندان واويايې لويه مالي شتمنی اوارګاه بارګاه درلوده ،بلکې ۳۴ کاله يې درسول الله صلی الله عليه وسلم دمبارکواحاديثو کتابونه اودوري زرګونوطالبانوته ولوستلې ، دولس دخيرخواهي اوروغوجوړوپرفيضه سرچينه وه، د کفارواوددوی داجيرانوپه وړاندې يې دبرحق جهاد برالاتائيداوملاتړ کاوه.

مادمرحوم شيخ صاحب ددياانت اوامانتداري له عبرت نه ډکه کيسه هم اوريدلي ، چې کله دتيراسلامي امارت په مهال په کابل کې دفاروقيه دارالعلوم مشهوري مدرسي ته داستادپه صفت بلل شوی و کله چې بيرته کورته روانيده نوداماارت دهغه وخت دمعارف وزيرصاحب ورته ۲۵ زره کلداري دخرچي لپاره ورکړي ترڅوپې په تګ اوراتګ

اونورواموروم‌صرف کړي ، ویل کیږي چې دامارت له سقوط ورسته کله‌چې مرحوم شیخ صاحب دامارت دمعارف په‌هغه وزیرسترګي ولګیدې نوترټولومهمه خبره یې‌داوه ورته چې(زه خوبیابیرته کابل‌ته درنغلم تاچې کومه‌خرچه راکړې‌وه هغه راسره پاتي ده اوساتلي‌مي‌ده اوسخت ورسره تکلیف‌یم چې څه پرې وکړم ؟) وزیرصاحب ورته ویلي وچې ته خپله عالم‌اوزمونږداستادپه ځای یې شرعا چې څنګه مناسب درته بریښي هغسې یې‌کړه؛ شیخ‌صاحب ورته وویل چې ته یې نه راڅخه تسلیموي ، نومجاهدینوته به یې ورکړم چې دجهادپه لارکې یې مصرف کړي.

دافغاني مشایخواومتبرکوهستیوورستي شهادتونه په ډاګه کوي چې دامریکااواجیررژیم‌نورې‌ټولې حربي اوزورازمایې شندې اودرې‌وړې‌وګرځیدي ، دسنګرله اتلانوسره یې‌دمقابلې ځواک له تاریخي شکست‌سره‌لاس‌اوګریوان‌شو،سیاسي چلونواوداسلامي امارت په‌مستحکم‌صف‌کې ددرزاچولوټول‌نیرنګونه په‌ابولاهوکړل شول، نواوس یې‌دهغوسپین‌رویواستادانواوعلمای‌کراموپه‌شهیدولوپسي رااخیستي چې له‌ولس‌سره‌شپه‌ورځ‌ناسته‌ولاړه‌لري‌اوپنځه‌وخته‌دالله‌دربارته‌دعبادت‌اوسجدې لګولولپاره‌جوماتونوته ځي‌اودصلیب‌نوکران‌ورته دجوماتونولاري‌څاري اودکلیسادخوشالولولپاره‌یې‌دجوماتونوپه‌غولي‌اولاروکوڅوکې شهیدانوي‌او غلیمانه ججوري اوپرې‌تشوي .

خوزمونږدافغاني مشایخواوروحانیونو دښمنان‌اوقاتلین ، بائیدپه‌زور‌اوزیرپوه‌وي چې‌دکومو‌خلکوشهادت‌اوله منځه‌وړلوته‌دوی‌لاس‌اوږدکړی ، دهغوی تعلق‌اوربط‌تریوې کورنۍ‌اومحدودقشرپوري‌نه‌وو ، بلکې‌دهیواداومسلمان‌ولس‌نخبګان‌اومرشدان‌یادیږي، شاته‌یې‌لوی‌ملت ،مجاهدې‌پرګني‌اوداسلام‌په‌لکونوسربکفه سپاهیان‌پاته‌دي ، هغوی به دخپلوشهیدومشایخوله‌نقش‌قدم‌اوپاکلي‌مسیرڅخه‌یوه‌لویشت هم‌کاږه‌اومخته‌ورسته‌نشي اوپه‌دې‌خبره‌دې‌هم‌سرونه خلاص‌کړي‌چې‌سرسپارلي‌مجاهدین‌به‌له‌هغولوروا‌وخلکوسره‌چې د‌افغانستان‌دمشایخوپه‌وینویې‌لاسونه‌سره‌اوککړدي‌دهریوه ځاڅکي‌په‌بدل‌کې‌به‌ورسره پوره‌پوره‌حساب‌کوي‌اودروندقیمت‌اوبیه به‌ګالي ، انشاالله‌تعالی

کرزیه امریکایان خو دې راوستل، که څه هم چې ته وایي چې: امریکایانو کرزی راوست! کرزي امریکایان نه دي راوستلي! په دې معنی چې امریکایان نورو راوستل، خو امریکایانو بیا کرزی راوست، په هر صورت هر څه چې وي، که تا راوستلي وي او که یې ته راوستلی وې، اوس یې د راوستلو پر سر د خبرو وخت نه، بلکې دا یستلو پر سر خبرې دي، که امریکایان تا راوستلي او که نورو، په دې کې شک نشته چې دې بر ستر او لوی تاریخي جنایت او خیانت یې کړی، خو لکه څومره یې چې راوستل ستر تاریخي جنایت دی، همدومره یې ایستل ستر او لوی تاریخي وياړ دی، د حضرت حمزه رضی الله عنه د شهادت په اوربدلي وي، چې د وحشي په ډبیر بن مطعم غلام و، او د بدر وژل شوی و، مطعم بن جبیر ته وویل چې که دې حمزه په بدل کې په شهادت همغه و چې وحشي عنه ددې لپاره چې خپل ورسولو.

وحشي رضی الله عنه الله علیه وسلم ترې ده ویل هو، وایي ورسولو؟ ده ویل: څه مو چې اوربدلي دغسې شوي!!، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته ویل چې کیسه را ته وکړه، حضرت حمزه رضی الله عنه دې څه ډول په شهادت ورسولو؟ حضرت وحشي رضی الله عنه ټوله کیسه ورته وکړه! رسول الله صلی الله علیه وسلم چې د خپل اکا چې رضایي وررور یې هم کبدو په شهادت ډبر زیات ځوربدلی و، وحشي رضی الله عنه ته یې وویل چې مخ دې رانه لیرې کړه، او نور ما ته په مخه مه راځه! رسول الله صلی الله علیه وسلم ځکه داسې ورته وویل چې د ده په لیدو به یې خپل اکا ور یادبدو، وحشي رضی الله عنه هم دا خبره ومنله، هر ځای به چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و، ده به کوشش کولو چې ور سره مخامخ نه شي، خو دا یې په زړه کې یو لوی داغ پاتې شو.

کله چې د یمامې غزا شوه، وحشي فکر وکړ چې راشه (مسلیمه کذاب) ووژنه، کبډای شي په دې سره له یوې خوا ستا خپل زړه یخ او ډاډه شي. او له بلې خوا به د نورو مسلمانانو زړونه هم یخ شي، او هغه داغ چې د حضرت حمزه رضی الله عنه د شهادت له وجې د ټولو مسلمانانو په زړونو لګېدلی هغه به لیرې شي، په دې معنی چې که مې د الله جل جلاله زمری (حضرت حمزه رضی الله عنه) په شهادت ورساوه دا دی د اسلام ستر دښمن مسلیمه الکذاب مې هم ووژلو! یعنې په دې سره به هغه جبیره شي، او همداسې یې وکړل، مسیلمه الکذاب یې هم وواژه.

اوس هم کرزیه که تا او ملګرو دې افغان ولس په امریکایانو وواژه! د شپې او ورځې یې کورونه تلاشي کړل، ښځې او ماشومان یې په سپیو ورته وداړل، جنسي تیري پرې وشول، زندانونو ته واچول شول په شهیدانو یې میتازې وکړې، د شهیدانو د بدن غړي یې له ځان سره د یادګار په توګه وساتل! کلي، کورونه، مدرسې او جوماتونه، فصلونه او باغونه یې بمبار کړل، پردیو هېوادونو ته یې هجرت کولو ته مجبور کړل، فحشا او عریاني یې پکې رواج کړه، د افغان ولس د نجونو او ټبغلو عفتونه یې ولوټل! په بیسونو او دفترونو کې افغان نجونې د وحشي امریکایانو د شهوت رانې ښکار شوې، یوازې امریکایانو نه، بلکې تر تا راتاو افغان لنډغرو او وحشیانو هم په پراخه کچه د افغان ولس دلونو عفتونه ولوټل! په وړو ځلور کلنو او پنځه کلنو نجونو جنسي تیرې وشول! د سپین ږیرو سپکاوی وشو، امریکایانو جنسي تیرې پرې وکړل! د افغان ولس نجونې هره ورځ په مختلفو نومونو د فحاشیو او بدکاریو ښکار کېږي، په تلویزیونو کې نخښې! افغاني غیرت او شهامت یې تر پښو لاندې شو! او دا ټول هم ته او هم دې ملګري د سر په ستر ګو ګورئ! بلکې دهمدې لپاره کار کوئ!

تاسو په حقیقت کې نه یوازې دا چې امریکایان د افغان خاورې ته راوستل، بلکې د افغان ولس، غیرت، شهامت، عفت، ننګ او ناموس مو د دوی په پښو کې ور وغورځول! ډېر سخت د افسوس ځای دی چې ای کاش داسې نه وای شوي!

دا چې وشول، او اوس په تا کې یو څه غیرت را پیدا شوی، غواړې چې له دې ورو سته دا ډول ناکردې تر سره نه شي، خیر یوسې! الله دې وکړي چې په خپلو خبرو کې او دریځ کې ریښتونی وې، داسې نه چې د ځینو ځانګړو موخو لپاره دا کار کوې! که ته په رښتیا په خپل دریځ تر پایه ودرېږې، او د راتلونکي لپاره ولس او هېواد له دغه تاریخي شرم او ناورین څخه وژغورې یقینا چې خپل تېر جنایتونه او خیانتونه به دې یو څه مینځلي وي.

ته باید پوه شي چې ستا دغه اوسنی دریځ یو درست دریځ دی، که دې تر پایه وساته نو ولس در سره ولاړ دی، آن طالبانو هم ستا د دریځ ستاینه وکړه، ګوره تا د امریکایانو په واسطه په طالبانو او ولس څه ونه

کړل؟ ته خپله ښه پوهېږي چې څه دې ونه کړل؟ خو نن چې دې دا ډول اسلامي او ملي دریځ غوره کړ، طالبانو هم شین څراغ در کړ! چې که خارجیان پاتې شول مونږ به جګړې ته ادامه ور کوو، او که ووتل نو جګړه به بس کړو! ته باید هوښیار و اوسي. ته وایې چې زه په خپل هېواد کې سوله غواړم، آرامي غواړم، د هېواد او ولس پرمختګ غواړم، او د همدې لپاره له امریکایانو سره ترون لاسلیکوم، او وایي چې خدا وراستي اګه غیرت ما قبول کنه! خو مجبور استیم! پس کله چې ستا دغه غوښتنه او آرمان د خارجیانو په وتلو تر سره کېدای شي آیا دا ستا لپاره یو تاریخي او طلایي فرصت نه دی؟ ته ولس او خاوره ځکه په امریکایانو خرڅوې چې سوله راشي، او په دې شرمېږي هم چې دا کار کوې، خو کله چې دغه سوله د خارجیانو له موجودیته پرته، او پرته له دې چې خاوره او ولس پرې خرڅ کړې راتلای شي! آیا دا په ربښتیا یو تاریخي او طلایي چانس نه دی؟ او که ته بیا هم ترون لاسلیکوي نو په حقیقت کې ته درواغزن یې، خپل ضمیر ته درواغ وایې، خپل ولس ته درواغ وایې، له خپلې خاورې او هېواد سره خیانت کوې!

ته باید پوه شې چې که افغانان په خپلو کې سره جوړ شي، هېڅ خارجي نشي کولی چې د دوی تر منځ اور بل کړي، او که افغانان په خپلو کې سره جوړ نه شي، نه امریکا اونه کوم بل څوک ددې توان لري چې هېواد ته سوله او آرامي راولي.

اوس خبره تر تا پورې تړاو لري، که دې دا تاریخي کار وکړ، هم به دې خپله توره ماضي سپینه کړې وي، او هم به د راتلونکو نسلونو لپاره ویاړ او افتخار جوړ شي! لکه تا چې خپله له آزادۍ رادیو سره په مرکه کې ویل چې زه غواړم راتلونکي نسلونه مې د خارجیانو لپاره زمری او دخپلو خلکو لپاره پسه وبولي! که په ربښتیا همداسې غواړې نو بیا ټینګ شه! ترون لاسلیک نه کړې! که هر څو فشارونه در باندې راشي، تر ټولو سختترین فشار به د مرګ ګواښ وي، که دې ووژني او که ژوندی پاتې شې په دواړو حالتونو کې دې مبره ده! که ژوندی وې ټول به دیو اتل په سترګه در ته ګوري، او که یې ووژلې او نیت دې د الله جل جلاله لپاره و، د دنیوي اتلولۍ تر څنګ به دې د آخرت لوی ویاړ او افتخار هم ګټلی وي! لنډه دا چې ستا په دواړو کې ګټه ده، که ژوندی وې د عزت ژوند به کوې، یوازې ته نه بلکې ټول ولس او هېواد، او که دې ووژني نیکمرغه مرګ به دې نصیب شي! تر دې لوی او لوړ بخت! کرزیه الله جل جلاله دې هر لوی تاریخي او طلایي فرصت په لاس در کړی، خو که ته سمه استفاده ور څخه وکړې!

والي تخار محترم مولوي بازمحمد (حميدي) درمصاحبه اختصاصي با ماهنامه مورچل :

مصاحبه کننده: شاهد

ولایت تخار دارای (۱۷) ولسوالی اند، که دوازده (۱۲) ولسوالی این ولایت فعلاً تحت تصرف مجاهدین امارت اسلامی میباشند، وتشکیلات اداری ما درآنجا فعال میباشند

جغرافیه وتاریخ ولایت تخار

ولایت تخار یکی از ۳۴ ولایت افغانستان است. این ولایت در شمال افغانستان واقع شده و مرکز آن شهر تالقان است.

تخار ازجملهٔ ولایات زراعتی و سرسبزبوده، درحدود ۴۰۰ کیلومتری کابل واقع است و از جملهٔ ولایات درجه دوم محسوب میشود.

به طرف شمال شرق تخار، ولایت بدخشان، به طرف غرب آن ولایت کندز، به طرف جنوب آن ولایت بغلان و به طرف شمال آن تاجکستان موقعیت دارد. مساحت تخار بیش از ۱۲۴ هزار کیلومتر تخمین زده شده است.

ولسوالی ها:

تخار بر اساس توزیع واحد های اداری (۱۲) ولسوالی دارد.

شهر تالقان مرکز تخار است وولسوالی های آن شامل ورسج، فرخار، کلفگان، خواجه غار، خواجه بهاوالدین، بهارک، هزار سمچ، دشت قلعه، ینگی قلعه، چاه آب، رستاق، بنگی، اشکمش، چال، نمک آب و درقد میباشد.

درین ولایت اقوام مختلف مانند ازبک، تاجک، پشتون و هزاره زندگی میکنند.

بیشترین ساکنین آنرا ازبکها و کمترین آنرا هزاره ها تشکیل میدهد.

آبدات تاریخی:

تخار یکی از ولایات تاریخی بوده و قدامت آن به زمان اسکندر مقدونی بر میگردد. جغرافیه نگاران یونانی (استرابو) و (بطلیموس) در آثار شان در تقریباً ۲۳۰۰ سال قبل از امروز از اسکندریهٔ آمودریا یا اسکندریهٔ اوکسیانا خبر داده بودند. اما تا این اواخر معلوم نبود که این شهر افسانوی اسکندر مقدونی درخاک کدام یک از کشور های آسیه مدفون و گمنام مانده است.

سالها بود که باستانشناسان و مورخین جهان بخصوص اروپاییان به جستجوی رد پای سپاهیان اسکندر در شرق برآمده بودند. تا اینکه راز بزرگی برملا شد و شهر معمایی اسکندر در شرق یا همان سکندریهٔ امودریا در ناحیه شمال شرق افغانستان(تخار) امروزی از زیرگرد قرون متمادی نمایان گردید که ب کشف آن معما های زیاد تاریخی و باستانشناسی حل و پرتو جدیدی بر زوایای تاریک تاریخ میهن معمر و مدنیت پرورما – افغانستان عزیز افگنده شد.

ساحهٔ باستانی (اسکندریهٔ آمودریا) در قریه کوچکی که بنام آی خانم شهرت دارد واقع گردیده که در ارتباط به آن باستانشناسان مربوط نام آن شهر یونان وباختری یا آن اسکندریه آمودریا را -آی خانم- یعنی ساحهٔ باستانی آی خنم گذاشتند.

سوال :خواهشمندیم که از روی لطف خودرا با خواننده گان مجله جهادي مورچل معرفی نمایید !

جواب: فلله الحمد رب السموات و رب الارض رب العلمین وله الکبیریاء فی السموات والارض وهو العزیز الحکیم والصلوة والسلام علی خاتم النبیاء والمرسلین وعلی آله واصحابه من تبعهم الی یوم الدین اما بعد. از مسؤلین مجله وزین وکفرشکن (مورچل) یک جهان سپاس گذاریم، که بما وقت دادند ،تا درمورد حالات جهادي ولایت تخار واوضاع سیاسی کشوربه خواننده گان این مجله اظهار نظر نمایم.

نام بنده مولوی باز محمد(حمیدی) و لد صوفی لعل محمد ساکن قریه پنجری ولسوالی اشکمش ولایت تخار می باشد ، و در قریه مذکور در سالی (۱۳۴۷) هجری شمسی چشم به

دنیا باز نمودیم، تعلیم ابتدایی در قریه مذکور حاصل نمودیم، بعداً انقلاب خونین قوی سورخ شوروی در عمر ده (۱۰) سالگی صورت گرفت ،که بعد از سپری شدن دو سال از وطن عزیز به هجرت مجبور شده، در مملکت همجوار پاکستان هجرت نمودم، باقی تعلیمات خویش در مدارس مختلف پاکستان تا فراغت دوره کلان در دارالعلوم حقانیه اکوړه ختک به رحمت الهی فائز گردیدیم.

سوال: از وقتی که مسؤلیت ولایت تخار بدوش شما سپرده شده، آیا می توانید احصائیه تلفات دشمن را معلومات دهید.

جواب: از وقت که وظیفه مسؤلیت ولایت تخار را به بنده سپرده شده اند، از آن وقت تا الحال عملیاتهای مبارک مجاهد امارت اسلامی در ولایت تخار خیلی دقیق و بجا بودند، عملیات امسال ولایت تخار تقریباً در حدود چهل (۴۰) میباشد، که به دشمن ضربه سنگین و شدید وارد نموده اند، راپورهای دقیق که صورت گرفته تحت ذیل قرار دارند، که بیست وهفت نفر اردوی ملی و پولیس اداره اجیر کابل و چهارده (۱۴) نفر اربکیها وهشت (۸) نفر متجاوزین اشغالگرهای امریکایی و دو (۲) نفر جاسوسان خاص امریکایها نیز به قتل رسیدند، که مجموعه شمار مقتولین به تعداد پنجاویک (۵۱) میرسند، و در میان مقتولین نیز سه قومندانان مشهور و یک وکیل شورای ولایتی عضو مهمی جنبش عبدالرشید دوستم بودند، و تعداد چهل وپنج (۴۵) نفر از اردوی ملی و پولیس واربکیهای اداره کابل مجروح گردیدند، و ایضا در این عملیاتهای مبارک مجاهدین ولایت تخار تعداد هفت (۷) موتر رینجر تخریب شدند، و به تعداد هشت (۸) نفر اردوی ملی و پولیس اداره کابل حقائق امارت اسلامی افغانستان را درک نموده، به صفوف مجاهدین ولایت تخار تسلیم و یک جا شدند.

سوال: در ولایت تخار قوت مجاهدین امارت اسلامی را چطور ارزیابی می کنید؟

جواب: الحمدالله والمنه، مورال مجاهدین ولایت تخار نهایت عالی و بلند است، و در همه وقت در برابر دسیسهای دشمن و فریب های شیطانی آنها در کمین و دفاع است، امیدوارم که در آینده مورال شان بالاتر و عالی تر باشد.

سوال: در مجموع صفحات شمال خصوصا ولایت تخار که اشغالگران مرکز خود میدانند اهالی ولایت تخار به همراه مجاهدین کدام اندازه همکار است؟

جواب: الحمدالله والمنه مردم غیور و متدینی ولایات سمت شمال خصوصاً اهالی ولایت تخار به همکاری مجاهدین قهرمان امارت اسلامی خیلی متوجه اند، و میخواهند که همکاری خود را از مجاهدین دریغ نه نمایند، لیکن ولایت تخار مرکز مخالفین امارت اسلامی است، لهذا علانیة به همکری مجاهدین امارت اسلامی دلچسپی ندارند، اما خفیه به معاونت مردم غیور و متدین ولایت تخار مجاهدین الحمدالله والمنه خیلی فعالیت عالی دارند، روز به روز اهالی غیور ولایت تخار از اداره دست نشانده غرب نفرت روبه افزائش است، چنانچه در وقت تجاور صلیبی و قوایی سرخ روس مردم قهرمان وغیور ولایت تخار توانستند، که اداره مزدور خلق و پرچم را سرنگون ساختن و توانستند، که ولایت خود را فتح نمودند، چنانکه تاریخ شاهد است، و انشاء الله عنقریب است که مردم قهرمان ولایت تخار نیز اداره مزدور غرب را سرنگون سازند، و شانه به شانه به همکاری مجاهدین استاده شوند.

سوال: در بعضی اوقات در ولایت تخار هنگامهای گوناگون به پیش می آیند، و در بعض اوقات خاموش میشوند علت شان چیست؟

جواب: مردم قهرمان و متدین ولایت تخار زمیندار، دهقان و غربیکار هستند. لیکن در بعضی اوقات از طرف شیطانهای داخلي وخارجی جلسه های دائر میگردد، که در آن جلسها سخنرانیهای خود مردم به طرف قومیت و سمتیت دعوت میکند، که از تاثیر سخن های آنان متاثر میشوند، و دست به تشنج میزنند، و حالات هنگامی را ایجاد می نمایند، کدام وقت که غرض و مقاصد آنها پوره شوند، حالات خودبخود بطرف اطمینان رو می دهند، و در بعض اوقات اغراض قومندانان روبه زوال میشوند، به خاطر نجات دادن اغراض خویش مردم متدین ولایت تخار به هجوم باعث می نمایند، لیکن حالاً مردم غیور ولایت تخار به اغراض شوم آنها واقف شدند، و انشاء الله در آینده چنین حالات بوجود نه می آیند.

سوال: بعد از آمدن دیموکراسی غربی وشعار های کاذبانه شان در زندگی مردم این ولایت چطور تغیر را محسوس می نماید؟

جواب: مردم قهرمان و متدین ولایت تخار از آمدن دیموکراسی در جامعه اسلامی عموما در افغانستان و ولایت تخار خصوصا خیلی نفرت و بغض دارند، چونکه مردم افغانستان بالخصوص اهالی ولایت تخار به قانون اسلامی و شریعت غراء محمدی صلی الله علیه وسلم محبت دارند، لهذا کدام قانون غیر اسلامی که در هر جا رائج شوند، بالخصوص در وطن مالوف شان اشداً انکار می نمایند، و مخالفت خود را به آن قانون غیر اسلامی اعلام

می نمایند ، چونکه در هر زمان و هر مکان بعضی عناصر مفسد وجود دارند ، و قانون غربیها را استقبال می نمایند ، همچنان در ولایت تخار چنین اشخاص وجود دارند ، لیکن نهایت در اقلیت است ، عموماً مردم متدین ولایت تخار به هر قانون که مخالف اسلام است و از کلتور افغانها مخالف است ، اشد بغض دارند.

سوال: اگر اداره کابل به همراه امریکایها بنام امنیت توافقنامه امنیتی را امضاء نمایند ، عکس العمل اهالی ولایت تخار چطور می باشد ؟

جواب: اگر اداره کابل با حکومت امریکا توافقنامه امنیتی را امضاء کنند ، مردم متدین افغانستان وبالخصوص به مردم ولایت تخار هیچ حیثیت ندارند ، زیرا که این چنین امضاء بحیث غلامی نمودند مردم متدین افغانستان و ولایت تخار است ، و این امضاء اداره کابل با امریکا د رتاریخ افغانستان چیزی جدیدی نیست ، زیرا که قبل ازین ببرک کارمل با روسها ، و شاه شجاع با انگلیس ها کرده بودند ، و کدام حالات که در آن زمان ایجاد شده بود ، درین زمان نیز ایجاد میشود ، زیرا که مردم افغانستان عموماً و بالخصوص ولایت تخار غلامی انگلیس ها را به هیچ صورت قبول نخواهند کرد ، مجاهدین شانه به شانه در مقابل غربیها و اداره مزدور شان به جهاد خویش ادامه می دهند.

سوال : آیا برسیدن هوای گرم پلان های جنگی دارید ؟ اگر دارید چطور میباشد ؟

جواب: طبق معمول به رسیدن هوای گرم سال به سال پلانهای مجاهدین از نگاه تجربه جدید و زیرک اهداف مهم را در نظر گرفته اقدام مینماید ، که خسارات سنگین را به دشمن وارد گردد ، لهذا مجاهدین امارت اسلامی افغانستان از مهارتهای جنگی برخوردار اند.

سوال: اولتر مسولیت شما در ولایت تخار کارهای جهادی بودند یا حل نمودن مشکلات مردم عوام ؟

جواب: مسولیت بنده در مورد کارهای جهادی نهایت متمرکز بودند ، و نیز به مجاهدین هدایت داده بودیم ، که به حل نمودن مشکلات مردم منطقه طبق فرامین امارت اسلامی افغانستان اقدام لازم نمایند.

سوال: تشکیلات اداری امارت اسلامي درولایت تخار فعال وتطبیق نموده میتوانید ؟

جواب: بلی الحمدالله ولایت تخار دارای (۱۷) ولسوالی اند ، که دوازده (۱۲) ولسوالی این ولایت فعلاً تحت تصرف مجاهدین امارت اسلامي میباشند ، وتشکیلات اداری ما

درآنجا فعال میباشند ،انشاء الله العزیزدر پنج (۵) ولسوالی دیگرهم تصمیمی داریم، که تشکیل را درآنجا هم پیاده نمایم ، ونظم را فعال سازیم ، که عموما در تمام ولسوالی ها ولایت تخار انشاء الله العزیز دست بکار شویم ،الحمدالله مجاهدین غیور این ولایت بانظر و مفکوره رسیدند ، که جهدوجهد خود را در مقابل دشمن و همکارانش استعمال نمایند ، تا اینکه کفر را سرنگون و شکست دهند.

سوال : به آهالی و اقوام ولایت تخار چه پیغام دارید؟

جواب: پیام بنده به تمام مردم متدین ولایت تخار این است ،که هر شخص وجیبه خویش را که عبارت است از تقوی ، پرهیزگاری ، تقرب الی الله و درست ساختن عقاید ، عبادات ومعاملات طبق شریعت غرای محمدی صلی الله علیه وسلم که سبب کامیابی دارین میگردد.

خلاصه بنده گی رب العزت امتثال نمودن به اوامر خداوند جل جلاله واجتناب از نواهی، مثلا نماز در آن وقت فرض میگردد ، که وقت نماز داخل شوند ، و روزه گرفتن در آن وقت فرض میگردد ،که شهر رمضان مبارک داخل شوند ، و جهد در آن وقت فرض عین میگردد ، که کفار بر حریم مسلمانان تجاور نموده،مانند انگلیسها ، شورویها و امریکاییها ،آن روز به تمام مسلمانان واجب است ،که در مقابل امریکاییها و همکارانش مقابله نمایند ، تاکفار از خاک مقدس افغانستان محوه و نابود ، و نظام اسلامی سراسر افغانستان برپا گردد.

دیگر این که به همراه مجاهدین دست به وحدت و اتفاق زند . از چند جمله مکار دشمن خودداری کند ، زیرا که دشمن فریب کار روبه تزلزل است ،نباید از مکر و فریب دشمن شکار شوند.

باز هم در مقابل علیه کفر و دشمن عقیده راسخ و عظیم و اراده محکم و فولادی داشته باشید . و در آخر میگویم به رسپاند الله رب العزت و رسول بپیوندید ، تا که مصداق این ایت کریمه بگردد

واعتصموا بحبل الله جمیعا ولاتفرقوا

ومن الله توفیق

والسلام

د شرعي او غير شرعي امير ترمنځ توپير

مولوی سیلاب (عمر)

د شرعي امير او غير شرعي امير توپير د نظام په توپير پورې تړلی دی ، په نړۍ کې عامه دوه نظامونه دي چې قوانين ، تګلارې او عقائد يې يو له بل څخه بېل او ځينې يې په نهايې تضاد کې واقع دي ، چې يو يې اسلامي نظام او بل يې ديموکراسي نظام دی .

اسلامي نظام د انفرادي ، اجتماعي ، عدلي حقوقي ، جزائي ، تجارتي ، تعليمي ، صحي ، او انتخابي چارو قوانين يې د شرع له څلورو اصول : کتاب الله ، سنت رسول الله ، اجماع د امت او قياس دمجتهدينو څخه سرچينه اخلي . يا په يقيني ډول ورسره تضاد ونلري ، چې دغه اصول د اسلامي عقيدې د بنسټ په توګه هم پېژندل کيږي .

خلاصه داسي ده : چې د حق او باطل ، روا او ناروا ، مقبول او مردود ، ترمنځ د امتياز ميزان او مدار د لوی خدای جل جلاله سپېڅلی او روښان شريعت دی ، چې دهغه ټولې پريکړې طی شده او مقطوعي دي ، نه کومي رايې ته اړتيا لري اونه کوم نوي پيوند ته ضرورت لري . ددغه نظام د چلولو او ساتلو سرواک ته شرعي امير ، سلطان ، پاچا ، يا رئيس ويل کيږي .

د يموکراسي يو مستقل کفري نظام دی ، چې د اسلامي نظام په مقابل کې تشکيل شوی دی ، د قوانينو يوه برخه يې له عيسوي دين څخه سرچينه اخلي ، د بېلګې په توګه د بنځينه اونارينه رايه په انتخاباتو کې يو د بل مساوي ګڼل کيږي ، د فاسق شخص او يو سپېڅلي انسان شاهدي يو د بل مساوي ګڼل کيږي اويوه برخه يې له يهودي دين څخه سرچينه اخلي ، د بېلګې په توګه د بانکداری او تجارت بنسټونه يې په سود ولاړ دي ، او يوه برخه يې په عقلي تخمينونو ولاړه ده .

خلاصه يې داسي ده : چې د حق او باطل ، روا او ناروا ، مقبول او مردود ، ترمنځ د امتياز ميزان او مدار د خلکو رايه ده . ظاهرا د يموکراسي نظام دغه عنوان د ساده لوحه خلکو په نظر جالب دی ، ځکه له دوی څخه د

یو شئ په انتخاب کې پوښتنه کیږي، په حقیقت کې نهایې ناکاره اوبنیادي بې کچې ضعیف دی، ځکه فیصله په اکثریت درایو باندې کیږي، طبعا اکثریت خلک د امورو عواقب نشي سنجولای، نو دیموکراسي د بې سنجه خلکو په سنجش ولاړ نظام دی.

نتیجه داسي شوه، چې په دیموکراسي نظام کې د قبول یا رد حکم د مخلوق درایې اوغوښتنې له مخې کیږي، او په اسلامي نظام کې د یو شئ قبول یا رد حکم د لوی خدای Ψ دشرع له مخه کیږي، نو جوته شوه چې په دیموکراسي کې د خالق د حکم په مقابل کې د مخلوق حکم ته ترجیح او اعتبار ثابت دی، په نړۍ کې د کافرانو له خوا د دیموکراسي نظام ایجاد په دغه غرض شوی دی، چې د خدای Ψ حکم له منځه یوسي اودیموکراسی ته ترویج ددې لپاره ورکول کیږي. چې اسلامي نظام په شا تېل وهل شي او ځای یې دې یموکراسي ونیسي، د پورتني تشریحاتو په نظر کې نیولو سره مورد داسي ویلای شو. چې دا یموکراسي یو مستقل کفري نظام دی، د اسلامي نظام په مقابل کې وضع شوی، ددغه نظام د چلولو، ساتلو او تنفیذ او تعمیل سرواک ته غیر شرعي امیر یا رئیس جمهور ویل کیږي.

زمونږ د هیواد ډېری وګړي نا لوستي دي، ځینې خلک کله داسي لفظ استعمال کړي: اسلامي دیموکراسي دا عظیمه سهوه ده، ځوک داسي نشي ویلای چې اسلامي عیسائیت یا اسلامي یهودیت، ځکه په اسلام کې یهودیت او عیسائیت نشته همدا راز په اسلام کې دیموکراسي نشته، په اسلام کې حریت شته.

شرعي امیر اطاعت د فقهاؤ له نظره

{إذَا أَمَرَ السُّلْطَانُ... بِمَا لَيْسَ بِمَعْصِيَةٍ وَلَا مُخَالِفٌ لِلشَّرْعِ بِيَقِينٍ فَيَصِحُّ الْأَمْرُ وَتَجِبُ الطَّاعَةُ لَهُ} {لِأَنَّ طَاعَةَ الْإِمَامِ فِيمَا لَيْسَ بِمَعْصِيَةٍ وَاجِبَةٌ} البحر، بَابُ الْبُغَاةِ ج (۵) ص (۱۵۲). درالمختار ج (۴) ص (۲۶۴). البدائع، البغاة ج (۷) ص (۱۴۰). شرح مجلة للاتاسي ج (۵) ص (۱۶۸). ردالمحتار البغاة، مطلب تجب طاعة الإمام ج (۲) ص (۱۷۲). دررالحكام ج (۴) ص (۵۴۹) ط بیروت.

ژباړه: سلطان چې د یو داسي کار حکم وکړي، چې په هغه کې معصیت نه وي، او په یقیني ډول د شرع سره په تضاد کې نه وي. امر یې صحیح او اتباع یې واجب ده. له دې امله چې د امام اطاعت په هغو کارو کې چې معصیت نه وي واجب دی.

یعني سلطان چې د کوم مصلحت له مخه د انتظامي امورو د انسجام لپاره د نظامي، اداري، تعلیمي، قضایي، مالي، زراعتي، وغیره امورو اړوند کوم ځانګړي قوانین وضع کړي. چې له شرع سره په تضاد کې نه وي، دهغه په اجراء او تعمیل مامورین یا رعیت مکلف کړي اتباع یې واجب ده او ترې سرغړونه ګناه او جرم دی،

د مجلة الاحكام العدلية [المَادَّةُ (١٨٠٠) القَاضِي وَكِيلٌ مِن قِبَلِ السُّلطَانِ بِإِجرَاءِ المُحَاكَمَةِ وَالحُكمِ .]
اتلس سومه (١٨٠٠) ماده د محکمو د قاضیانو اړوند حکم کړی دی چې : د محاکمې په اجراء او حکم کې قاضي د سلطان له خوا وکیل ټاکل شوی .

[المَادَّةُ (١٨٠١) القَضَاءُ يَتَقَيَّدُ وَيَتَخَصَّصُ بِالزَّمَانِ أَوِ المَكَانِ وَاستِثنَاءُ بَعضِ الخُصُومَاتِ الخ]

په اتلس سوه یوومه ماده کې یې وکالت شرح کړی دی (قضاء په زمانه، مکان، او استثناء د ځینې احکامو مقیده کیږي) .

له پورتنیو عباراتو څخه جوته شوه چې یوازې قاضي نه بلکې د حکومت ټول وزیران، رئیسان، آن تر ټیټ رتبه مامورینو پورې یو دبل له خوا د امیر المؤمنین یا سلطان په اجازه د سلطان وکیلان ټاکل شوي دي د وکالت حکم د فقهي احکامو په لړکې مشهور او معلوم حکم دی. چې د موکل له خوا وکیل ته ټاکلی صلاحیت وسپارل شي، نو وکیل له دغه ټاکلي صلاحیت څخه د باندې د دغې قضیې اړوند هیڅ صلاحیت نه لري، که کوم رئیس د سلطان له خوا د ورسپارل شوي صلاحیته د باندې خپل ځاني صلاحیت وکاروي. حکم یې نافذ نه دی او اتباع یې واجب نه ده, که کوم کتونکی زیات معلومات غواړي د پورتنیو دواړو مادو مربوط بحث دي په دررالحکام شرح مجلة الاحکام کې تر ژوري مطالعې لاندې ونیسي .

نتیجه : داسي شوه چې د انتظامي، اداري، قضائي او نورو امور اړوند د امیر له خوا توشیح شوي اصول او قوانین چې له شرع سره په تضاد کې نه وي، د فقهاؤ له نظره ټولې مربوطې څانګې او اداري په هغه چوکاټ کې په اجرا آتو او تعمیل شرعا مکلفې دي، که څوک ترې سرغړونه وکړي نو شرعا او قانونا مجرم دی او د تعزیري سزا مستحق دی .

د شرعي امیر د اطاعت انتخاب

عَنْ عَلِيٍّ قَالَ بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَرِيَّةً وَاسْتَعْمَلَ عَلَيْهِمْ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ وَأَمَرَهُمْ أَنْ يَسْمَعُوا لَهُ وَيُطِيعُوا فَأَغْضَبُوهُ فِي شَيْءٍ فَقَالَ اجْمَعُوا لِي حَطَبًا فَجَمَعُوا لَهُ ثُمَّ قَالَ أَوْقَدُوا نَارًا فَأَوْقَدُوا ثُمَّ قَالَ أَلَمْ يَأْمُرْكُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تَسْمَعُوا لِي وَتُطِيعُوا قَالُوا بَلَى قَالَ فَادْخُلُوهَا قَالَ فَنَظَرَ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ فَقَالُوا إِنَّمَا فَرَرْنَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ النَّارِ فَكَانُوا كَذَلِكَ وَسَكَنَ غَضَبُهُ وَطَفِئَتِ النَّارُ فَلَمَّا رَجَعُوا ذَكَرُوا ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : { لَوْ دَخَلُوهَا مَا خَرَجُوا مِنْهَا إِنَّمَا الطَّاعَةُ فِي الْمَعْرُوفِ } رواه مسلم في وجوب طاعة الامراء ،

وللفظ له برقم (۳۴۲۴ـ۳۴۲۵) وايضا رواه البخاري في السمع والطاعة برقم (۶۶۱۲ـ ۶۷۱۶). وغيرهما.

ژباړه : حضرت علي كرم الله وجهه وويل : رسول الله صلى الله عليه وسلم (د مجاهدينو) يوه پلټكى يوځاى ته وليږله، د انصارو يو سړى يې د امير په توګه وټاكه، رسول صلى الله عليه وسلم دوى ته حكم وكړ چې دده خبر منځ او اطاعت يې كوئ (د سفر په جريان كې امير) په يوشئ دوى ته سخت په غصه شو، حكم يې وكړ لرګي راغونډ كړئ، دوى راغونډ كړل، حكم يې وكړ اور بل كړئ دوى اور بل كړ، له دې وروسته يې وويل : ايا!!! تاسوته رسول الله صلى الله عليه وسلم امر نه دى كړى، چې زما خبر به منځ او زما اطاعت به كوئ ؟ دوى په ځواب كې وويل : هو دغه حكم يې كړى دى، ده حكم وركړ چې اور ته ورګډ شئ !! دوئ يو بل ته وكتل، ځينو وويل : مونږ له اور څخه د نجات په تمه له رسول صلى الله عليه وسلم سره بيعت وكړ، اوس په كوم دليل اور ته ور ودانګو ؟ په همدې جريان كې د اور لمبې خاموشه شوې او دده غصه هم ارامه شوه . كله چې راستانه شول رسول صلى الله عليه وسلم ته يې كيسه وكړه [اوس پوښتنه داده چې د اطاعت اقدام غوره دى اوكه د مخالفت اقدام ؟] رسول صلى لله عليه وسلم وفرمايل : كه چيرې دوئ اور ته داخل شوي وى، هيڅكله به تر ې وتلي نه واى، بې شكه اطاعت په روا كاروكې دى .

پورتني حديث شريف د امير اړوند ټوله مسئله واضح كړه، د امير اطاعت هلته واجب دى، چې حكم يې له شرع سره موافق وي. او هلته يې اطاعت حرام دى چې حكم يې په يقيني ډول د شرع په خلاف وي. ځكه د امير امر شرعي حرام نشي جائز ولاى، كه ممكن واى نو رسول صلى الله عليه وسلم بيا ولي ورته ويل : كه اورته داخل شوې واى بيا به هيڅكله تر ې وتلي نه واى، ځكه د خپل نفس ناروا قتلول وه، د اسلام د دفاعي او تعرضي جهاد دواړو برخو اړوند يو ډول نفعه نه پرې مرتب كيږه. په هغو امورو كې چې اطاعت يې حرام وي، د شرعي امير په توګه نه پېژندل كيږي، كه په حرام او ناروا عمل باندې د امير اطاعت څوك وكړي او په همغه كې ووژل شي، شهيد نشي ګڼل كيږدای، ځكه رسول صلى الله عليه وسلم وويل : كه اورته داخل شوې واى بيا به هيڅكله تر ې وتلي نه واى .

نتيجه داسي شوه كه كوم امير د داسي قوانينو لمخه يا د داسي چا له خوا وټاكل شي، چې هدف پكښې د اسلام د احكامو، ديني مقدساتو، ديني عقائدو، اسلامي عنعناتو او ارزښتونو له منځه وړل او توهينول وي، هيڅكله شرعي امير نشي ګڼل كيږدای. اطاعت يې واجب نه دى، ځكه رسول صلى الله عليه وسلم وفرمايل : { إِنَّمَا الطَّاعَةُ فِي الْمَعْرُوفِ }، بې شكه اطاعت په روا كاروكې دى .

{فإن أمر بمعصية فلا سمع ولا طاعة}. بخاري ومسلم.

ژباړه : بې شکه په نارواکې نه منل شته اونه اطاعت شته .

د حضرت علي رضی الله له پورتني روایت څخه د دریو مسئلو احکام جوت شول :

(۱)- د امیر حکم عمل ته جواز نشي ورکولای . بلکي د جواز حکم به له فقهي احکاموڅخه ترلاسه کوي .

(۲)- په ناروا عمل باندې د امیر د حکم اطاعت واجب نه دی . بلکي په نارواکې اطاعت ګناه اوحرام دی .

(۳)- کوم څوک چې تر ناروا قومندې لاندې یا په کوم معصیت کې ووژل شي شهید نشي ګڼل کېدای .

(۴)- امیر اطاعت په روا کارو کې واجب دی .

له واک څخه معزول شوي شخص ته نبوي ρ توصیې

عَنِ ابنِ عبّاسٍ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ رَأَى مِنْ أَمِيرِهِ شَيْئًا يَكْرَهُهُ، فَلْيَصْبِرْ، فَإِنَّهُ لَيْسَ أَحَدٌ يُفَارِقُ الْجَمَاعَةَ شِبْرًا، فَيَمُوتُ إِلَّا مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً هٰذَا حَدِيثٌ مُتَّفَقٌ عَلَى صِحَّتِهِ .

ژباړه : حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما وویل : رسول الله صلی الله علیه وفرمایل : که څوک له خپل امیر څخه داسې کار چې دده نه خوښنیده وویني نو صبر دي پرې وکړي . ځکه څوک چې د مسلمانانو له ډلې څخه د یوې لوښتي په واټن جلاشي ، که په همغه جلاوالي کې مړ شي ، نو هغه د جاهلیت په مړینه مړ دی .

د پورتني حدیث مطلب دادی چې د ناخوښه کار په لیدو سره که صبر ونکړي نو شیطان یې بېلتون پالې ته هڅوي خدای مکړه که د شیطان اتباع وکړي ځان له خدای پالې ډلې جلاکړي بیرته پښېمان نشي ، توبه ونه باسي او دبېلتون په دریځ اصرار وکړي د صالحانو په یو موټې ډله کې اختلاف او بې اتفاقي وغورځوي نو دوزخ ته به ولاړشي .

ځکه اصل اهداف ، نظریه ، عقیده او ددغه بریالیاره پوخ دریځ دی ، نه خپل امتیازات او ځان تسلط او په قدرت کې پاتې کیدل ، مقصد اهدافو ته د رسیدو لپاره مشترکه مبارزه او مجاهده ده ، د بې اتفاقی او تشتت په صورت کې اهداف لمنځه ځي نو همدا لامل دی چې اختلاف مذموم او دوزخ ته د تللو سبب دی .

قَالَ حُذَيْفَةُ بْنُ الْيَمَانِ : قَالَ صلى الله عليه وسلم : « تَسْمَعُ وَتُطِيعُ لِلْأَمِيرِ وَإِنْ ضُرِبَ ظَهْرُكَ وَأُخِذَ مَالُكَ فَاسْمَعْ وَأَطِعْ » . رواه مسلم ، باب الامر بلزوم الجماعة ، برقم (۴۸۹۱) . ورواه الحاكم في المستدرک برقم (۸۵۳۳ ـ ۸۳۳۲) وسنن الكبرى للبيهقي برقم (۱۷۰۶۰) والجامع بين الصحيحين برقم (۳۹۸) .

ژباړه : حضرت حذيفه ابن اليمان رضی الله عنه وويل : رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : د امير خبره ومنه او اطاعت يې وکړه. که څه هم ته ووهل شې او ستا مال در څخه واخيستل شي، خبره يې اوره اطاعت يې کوه .

له پورتنيو دواړو حديثو څخه جوته شوه چې دمسلمانانو له ډلې سره اجتماعي ژوند د دنيوي او اخروي نيکمرغي او بريا زېرى دى، ترې بېلېدل او جلاوالى د دنيوي او اخروي بدمرغي او تباهي پېلامه ده.

نبوي توصيه : نوکه امير د کوم مصلحت دپاره رئيس، والي، ولسوال، محاذ مشر، ډلګي مشر له خپلې رتبې اومنصب څخه معزول کړي يا آن وسله او وسائل ټول ترې واخلي، معزول کس ته رسول الله صلی الله عليه وسلم داسي توصيه وفرمايله [که څوک له خپل امير څخه کومه ناخواله ووينې نو صبر دي پرې وکړي]] که څه هم ته ووهل شې او ستا مال در څخه واخيستل شي. خبره يې اوره اطاعت يې کوه]] ځکه څوک چې د مسلمانانو له ډلې څخه د يوې لوښتي په واټن جلاشي ،بيا په همغه جلاوالي کې مړ شي، نو هغه د جاهليت په مړينه مړ دى].

نبوي توصيه : ځينې مجاهدين دنا پوهي او سادګي له امله چې د ديني زدکړې سويه يې ټيټه وي، کله کله داسي اقدام وکړي چې شرعاً د ګټې په ځاى له لوى زيان سره مخ شي، د مثال په ډول کله چې له رتبې څخه معزول شي، يا وسله ترې واخيستل شي، نودا ډېر مايوس اوناهيلى شي، شيطان يې تحريک کړي د مسلمانانو له ډلې سره پرېکون وکړي يا د دنيوي تمې او مفاداتو په خاطر څنګ بدل کړي آن د کافرانو په ليکه کې داخل شي، داسي کس ته رسول الله صلی الله عليه وسلم داسي توصيه وفرمايله [څوک چې د مسلمانانو له ډلې څخه د يوې لوښتي په واټن جلاشي ، که په همغه جلاوالي کې مړ شي، نو هغه د جاهليت په مړينه مړ دى]

له نيکانو څخه په بېلتون کې جنت نشي موندل کيداى

په انفرادي توګه الله جل جلاله جنت ته څوک نه پرېږدي تر څو د نيکانو په ډله کې شامل نشي ، الله جل جلاله په دې اړوند داسي فرمايلي دي :

{فَادْخُلِي فِي عِبَادِي (٢٩) وَادْخُلِي جَنَّتِي (٣٠)} سورة الفجر.

ژباړه : زما د صالحو بندګانو په ډله کې شامل شه ،بيا له هغو سره يوځاى زما جنت ته ننوځه .

له پورتني آيت څخه واضحه شوه ،چې يوځل به نيکانو په ډله کې شاملېږي بيا جنت ته تللاى شي، نو ترې څرګنده شوه که څوک په دنيوي ژوند کې د مسلمانانو له اجتماع څخه ووزي يا د نيکانو له ډلې څخه مړه ور شي پرېکون ورسره وکړي نو په يوازي والي کې جنت نشي پيدا کولاى، ځکه رسول صلی الله عليه وسلم

په صراحت سره وفرمايل : [څوک چې د مسلمانانو له ډلې څخه د يوې لوښتي په واټن جلا شي، که په همغه جلاوالي کې مړ شي، نو هغه د جاهليت په مړينه مړ دی].

د جاهليت په مرګ مړ دی واضح مطلب يې همدغه دی چې دنيکانو له ډلې څخه د بېلتون په حال کې مړ شي له جنت څخه محروم دی .

قال الله تعالى : {إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُوا مَا بِأَنْفُسِهِمْ وَإِذَا أَرَادَ اللَّهُ بِقَوْمٍ سُوءًا فَلَا مَرَدَّ لَهُ وَمَا لَهُمْ مِنْ دُونِهِ مِنْ وَالٍ (١١) } الرعد .

ژباړه : بې شکه الله چې د لورېنې له مخه کوم قوم ته نعمتونه ورکړي تغير نه ورکوي تر څو چې دوی (د خدای له حکم څخه) سر غړونه ونکړي، الله چې کومې ډلې ته د سزا ورکولو اراده وکړي، هيڅوک يې بيا مخنيوی نشي کولای، له خدای څخه پرته کوم بل دوست د دوی نشته چې خير ورته راجلب او له شر څخه يې وژغوري .

له سواد اعظم څخه جلا شوی کس شيطان اختطاف کړی دی

د مسلمانانو اجتماعي قوت او خپل منځي اتفاق يو له هغو نعمتونو څخه دی چې په پورتني آيت کې د نعمت ذکر وشو او د زرګونو نورو نعمتونو سرچينه ده، د مسلمانانو په لومړيو ضرورتونو کې د لوی خدای جل جلاله له خوا دهغه نصرت دی رسول صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې د الله نصرت د مسلمانانو له اجتماع او اتفاق سره مل دی :

عَنْ أُسَامَةَ بْنِ شَرِيكٍ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : يَدُ اللَّهِ عَلَى الْجَمَاعَةِ، فَإِذَا شَذَّ الشَّاذُّ مِنْهُمُ اخْتَطَفَهُ الشَّيْطَانُ كَمَا يَخْتَطِفُ الذِّئْبُ الشَّاةَ مِنَ الْغَنَمِ . رواه المعجم الكبير للطبرانی برقم (٤٩١) . وفي رواية (وَإِنَّ الشَّيْطَانَ مَعَ مَنْ فَارَقَ الْجَمَاعَةَ" .) وفی رواية (وَالشَّيْطَانُ مَعَ مَنْ خَالَفَ الْجَمَاعَةَ يَرْكُضُ") وفی رواية (فمن شذ عن يد الله لن يضر الله شذوذه ») وفی رواية (اتبعوا السواد الأعظم يد الله على الجماعة من شذ شذ فی النار) . حديث ابن عمر : أخرجه الحكيم (٤٢٢/١)، والحاكم (١٩٩/١، رقم ٣٩١) .

حديث ابن عباس : أخرجه الحاكم (٢٠٢/١، رقم ٣٩٨) .

ژباړه : حضرت اسامه ابن شريک رضی الله عنه ووېل : رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : د الله نصرت له ټولنې سره مل دی، که څوک تړې بېل شوو هغه کس شيطان اختطاف کړيدی لکه څه راز چې ليوه له رمې څخه جلا شوی پسه اختطاف کوي .

په نورو روایاتو کې د حدیث دغه برخه په بېل بېل لفظونو روایت شوی دی چې لفظونه یې پورته ذکر دي او ژباړه یې داسې ده : له عامې ډلې څخه (د جلاشوې کس شیطان ملګری دی) (له اجتماع څخه مخالف کس شیطان هڅوي) (څوک چې د الله له نصرت څخه جلاشي ، بېلېدل یې الله ته هیڅ ضرر نشي رسولای) د مسلمانانو له (لویې ډلې سره یوځای شئ د الله نصرت له جماعت سره مل دی ، څوک چې ترې بېل شي نو دوزخ ته به ولاړشي).

عَنْ عَرْفَجَةَ بْنِ شُرَيْحٍ الْأَشْجَعِيِّ قَالَ : رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ يَخْطُبُ النَّاسَ فَقَالَ إِنَّهُ سَيَكُونُ بَعْدِي هَنَاتٌ وَهَنَاتٌ فَمَنْ رَأَيْتُمُوهُ فَارَقَ الْجَمَاعَةَ أَوْ يُرِيدُ يُفَرِّقُ أَمْرَ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَائِنًا مَنْ كَانَ فَاقْتُلُوهُ فَإِنَّ يَدَ اللَّهِ عَلَى الْجَمَاعَةِ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ مَعَ مَنْ فَارَقَ الْجَمَاعَةَ يَرْكُضُ رواه سنن النسائي بشرح السيوطي وحاشية السندي جـ (٧) صـ (١٠٦) رقم الحديث (٤٠٣٢) . وايضا رواه مسلم برقم (٣٤٤٢) ومسند احمد برقم (١٨٢٣٠) . الهنات : الشرور والفساد ، والشدائد والأمور العظام.

ژباړه : حضرت عرفجه ابن شریح اشجعي رضی الله عنه وویل : نبي صلی الله علیه وسلم مې په منبر باندې د خطبې ویلو په حال کې ولیده چې ویې فرمایل : له ما څخه وروسته به فتنې او فسادونه راشي ، که تاسو څوک ولیدل چې له جماعت څخه جلا کیده ، او یا یې د محمد صلی الله علیه وسلم امت ته د تیت او پرک کیدو اراده کړې وه ، هر راز چې وه ویې وژنئ ، بې شکه د الله نصرت د اجتماع مل دی ، د جلا شوې کس سره شیطان ملګری دی هغه یې هڅوي .

پورتنیو احادیثو ته په کتو سره کوم مسلمان چې په خدای جل جلاله او دهغه د رسول صلی الله علیه وسلم په خبرو عقیده لري او په دې فکر وي ، چې په خپل ژوند کې الله Ψ راضی کړي . نو د صالحو مسلمانانو له عامې ټولنې دې ځان نه بېلوي ، کوچنیو ګیلو ، او بې ارزښته نفسي خواهشاتو ، شخصي امتیازاتو ته دي د دومره اهمیت په سترګه نه ګوري چې له اجتماع څخه ځان جلا کړي ، ژوند یې په معصیت کې شي ، دنیوي او اخروي تباهیو ته ځان ور ټېل وهي .

ومن الله التوفیق وافوض امری الی الله .

نور بیا .....

ذبیح الله مجاهد

څو شپې له خپل وطن سره

محترم مجاهده وروره السلام علیکم !

ایا تاسې ویلای شئ چې په افغانستان کې د ننې ناامنۍ علتونه څه دي؟ او ولې صلح پدې هیواد کې نشي راتلای ؟ نعیم خان

ځواب: وعلیکم السلام ! وروره ډیره ښکاره مسئله ده ، ننې بې امنۍ خو د امریکایي اشغال له امله ده، تاسو خبر یاست چې له نن نه دولس کاله وړاندې د افغانستان مسلمانو خلکو د خپلو شهیدانو یو ممثل اسلامي حاکمیت درلود، اسلامي امارت د علماء کرامو په فیصله او د زرهاوو علماؤو په قرباني او شهادت سره د دې ملت لپاره، سوله راوسته ، له ډیر سخت بد حال نه یې ملت او هیواد ته نجات ورکړ ، له ډیرو ظالمانو څخه یې د مظلوم حق واخیست او هغه نامطلوبه ، شریر او ټوپکمار مخلوق چې د مختلفو تنظیمونو په چوکاټ کې ځای په ځای شوي وو او بیا یې د خپلو خلکو مالونه ، عزت او حیا هرڅ لوټل ، پاټکونه یې اچولي وو، لارې یې بندې کړي وي، د هیواد ښارونه یې د جرمونو او جنایاتو په مراکز بدل کړي وو، شخصي جنګون، کور په کور بدۍ، د پیسو په بدل کې انسان وژنه، غلا، چور او سل رنګه جنایات یې په ورځ کې ترسره کول، زموږ د جهاد او مجاهدینو رنګ یې بد کړ ، زموږ د شهیدانو ارواوې یې ناراحته کړې، زموږ افتخارات یې په اوبو لاهو کړل، د هلکانو سره یې ودونه وکړل، د انسانانونه یې سپې جوړ کړل او بیا یې نور پرې ودارل، دخلکو ناموسونه یې په ښکاره او بربنډه بې عزته کړل، عفیفو ښځو یې له وجهې ځانونه د

مکرر ویانو له څوم منزل نه را وغورځول، د انسانانو په سر کې یې په ژوندونې میخونه ټک وهل، د خلکو سڼځې یې لوڅې او بربنډې زندانونو او تاخانوته واچولې، رقص مورده یې اجرا کړ او داسې نور جنایات.....

د هیواد بادرکه علماوو ، طالبانو، مخلصو مسلمانانو، ریښتونو مجاهدینو، دشهیدانو وارثانو او نیکو خلکو یې په وړاندې قیام وکړ او په الله تعالی باندې په محض توکل سره یې په ډیره لنډه موده کې د ټولو شریرو عناصرو کمپله د هیواد له ډیرې برخې ټوله کړه او داسې مثالي امن او آرام یې راووست چې د افغانستان په تاریخ کې د هیڅ نا آرامۍ او اړدوړ پسې هم چا نه وو راوستی.

کله چې امریکا په افغانستان کې د اسلامي نظام ژوندۍ نمونه ولیده او په دې هم پوه شول چې د نړۍ مظلوم ولسونه او مسلمانان به تر ې تقلید وکړي او هر څوک به په خپل ملک کې د همداسې اسلامي نظام په هڅه کې شي او ورسره به ټولې سیکولرستۍ هیلې خصوصا د امریکا نارواګټې او د ملتونو د زیښلو لړۍ به پای وموميۍ ، نو یې په افغانستان وار مخ کې کړ او د ځمکې په مخ یواځنی سوچه اسلامي نظام یې له خنډونه سره مخ او هیواد یې ورته اشغال کړ.

افغان مسلمان او میړني ولس هم چې د اسلامي نظام لپاره یې خورا ډیرې قربانۍ په دوو لسیزو کې ورکړي وي ، همدارازیې د خپل شرعي مسئولیت د رفع لپاره بیا په سپیځلي جهاد لاس پورې کړ، چې طبعا ناامنۍ ورسره ټول هیواد ته وغځیده، په هرځای کې په یرغلګرو بریدونه پیل شول، له غلامانو او لاسپوڅو سره یې چې په پخوانیو ټولو ناخوالو کې مخامخ دخیل وو هم جګړه پیل شوه او تر ننه پورې دوام لري، زموږ په عقیده، جهاد ځانته سپیځلي او لوړ مرام لري، چې د هغه مرام او هدف لپاره د جهاد ټولې ناخوالې، خرابۍ، درپه دری، هجرتونه، زحمتونه او تکالیف برداشت کیږي؛ نو زموږ جهاد هم د خپل آرمان د تحقق لار څاري ، تر څو به دوام لري چې ټول اشغالګر هیوادونه له هیواده وشړل شي ، مجرمینو او دکفارو اجنټانو ته سزا ورکړل شي او بیرته اسلامي حاکمیت چې نیږدې دوو ملیونو شهیدانو آرمان تر ې جوړ شوي په هیواد کې پلی او عملي کړل شي، هغه مهال به ان شاءالله بیرته هیواد ته امن راځي ، سوکالۍ به راځي او افغان مسلمان ملت به د سکون او آرام په فضا کې آبرومندانه ژوند ته مخه کوي، د اشغال له هر اړخیزې خاتمې مخکې په هیواد کې د امن طمع کول بې ځایه دي، له الله تعالی نه غواړو چې نور ډیر ژر زموږ د کړیدلي ولس کړاونه ختم کړي ، دښمنان مو خجالت او مات کړي او د هغو ټولو شهیدانو دوینو او قربانیو په برکت زموږ هیواد ته اسلامي حاکمیت راولي چې د الله په لاره کې یې خپل ټول خواږه ترخه، مور پلا، ښځه او اولادونه ، ژوند او راحت پریښودل او په سرو اوړونو ننوتل او د کفارو سره یې ډغرې ووهلې او بیا شهیدان شول، تقبلهم الله.

منه *******

مجاهده وروره سلامونه او احترامونه مې قبول کړه! لوی الله جل جلاله دې دکفر او صلیب په مقابل کې همداسې غږ ولره. بله خبره داده چې زموږ ډیری مجاهدین وروڼه دانټرنټ څخه استفاده کوي، خوکه سالمه اومبارزه استفاده تر پې وکړي دا به ډیره ښه وي. سوال مې دادی چې ایاتاسې داسې کوم پلان لرئ چې مجاهدینوته وښیي چې باید څرنګه له انټرنټه کارواخلي؟ او په فیسبوک کې ډیری خلک دمجاهدینوپه نامه آیدانې (IDs)لري.

خوداسې خبرې، عکسونه اومقالې پورته کوي چې د مجاهدینوله شان سره نه ښایي که مهرباني وکړي د دوي د کنټرول په هلکه معلومات راکړئ؟ مننه حافظ عبدالله پنجوایي ،تلوکان،پیروزوکلی

ځواب : ستاسو سوال ډیر قیمتي و ، مامو پوښتنه د چارو له مسئولینو سره شریکه کړه، هغوئ ېې په اړه وویل چې موږ د مختلفو لارو نه هڅه کوو ، چې ټول مجاهدین د نوې تکنالوژۍ نه په سالمه استفاده تربیه شي ، تر ډیره مو ملګري او مخلصین روزلي هم دي چې د انټرنټ او نورو معاصرو وسایلونه د هیواد او اسلامي ارزښتونونه د دفاع په لاره کې کار واخلي او سالمه استفاده ځینې وکړي، خو یوڅه دي چې د فیسبوک او ټیوټر دایره دومره پراخه او سوروره ده ،چې سړی هرڅه وکړي بیا هم نشي پسې رسیدلی، ځکه تاسو په انټر نټ کې دا مخلصین او ګډون کونکي ګورئ چې د نړۍ له مختلفو هیوادونو څخه د فیسبوک او ټویټر نه استفاده کوي، څوک په پوهنتونونو کې دي ، څوک په شخصي تجارت او کار بوخت دي، څوک د نورو ستونزو له املې مسافرت ته اړ شوي او له بهرنیو هیوادونونه فیسبوک استعمالوي او د مجاهدینو له داعیي او خپل هیواد د آزادۍ له هدفه دفاع کوي، نو په دا اوسنیو سختو شرائطو کې چې موږ د هیواد په هیڅ لوی ښار کې چې انټرنټ او نورو وسائلوته لاس رسی په کې آسانه وي بر الا فعالیت نشو کولای، دفتر نشو خلاصولی، اداره نشو پاللی نو په دا ډول حالاتو کې اوس هم چې صرف له آنلائن طریقې نه ملګري په نظم او نسق کې راولو، له جهادي صف سره یې ملګري کوو دا هم ډیر کار ده، خو په راتلونکې کې ستاسو ارزښتمنو مشوروته چې د پوښتنو په ضمن کې مو راکړي دي هم متوجه یو، الله تعالی دې وکړي چې شرائط او ظرفیتونه را سره مرسته وکړي . آمین یارب العلمین

دمورچل دارالافتاء

مفتي ابومارية

دتعزير په اړه ديوي استفتاء تفصيلي ځواب :

الاستفتاء :محترم مفتي صاحب ! دالاندي پوښتنو ته که تفصيلي ځواب راکړئ ضرورت موهم ده .او في الحاله ورته اړيو : پوښتني دادي :

۱= يومجرم تعزيرا قتل کيدلای شي ؟

۲= اودسياسة اوتعزير فرق شته ؟ مثلا : موږ داوايو چې ددې مجرم قتل سياسة روادی : يايې امير سياسة قتل کولای شي ؟

۳= همدارا ز دغه قتل تعزير يوازې امير کولی شي او که يې افرادهم کولی شي ؟

۴= همدارا ز دتعزير دنورو اقسامو په اړه که موږ ته معلومات راکړئ چې په تعزير کې کومې جزاوې داخلې دي مهربانی به مووي . المستفتی مولوي عبدالله .

الجواب حامداومصليا وبعد : ددکر شويو پوښتنوله جملي څخه دلمړی پوښتنې ځواب دادی : چې مسلمان حاکم ياامير : مجرم ته دسزا ورکولو تعزير ور کولی شي خو چې دمجرم دجرم اوحالاتو سره مناسب تعزير وي ، اوتعزير په پنځه قسمه دی :

تعزير بالقتل . يعني دمجرم قتل کول.

تعزير بالجلد . يعني په دُرّو اچې دوهلو يوه آله ده) پاپه ورته آله سره دمجرم وهل ،

تعزير بالحبس . يعني دمجرم لپاره قيداوحبس چې له موده يې له جزاء سره مناسب تاکله کيږي .

تعزير بالنفی عن الوطن . يعني له وطن څخه معينې مودې لپاره تبعيد کول .

تعزير بالمال . يعني په پيسوجريمه کول .

البته :داحنافو په نزد دقتل تعزير هغه مهال ور کول کيدلای شي چې جنايت په متکرر ډول وشي ، اوبل داچې دهغه جنايت په جنس کې سزا په قتل سره مشروع وي ، دمثال په ډول احنافو فقهاو ليکلې دي : چې که يوتن مکرر لواطت کړی وي ، بيايې امير ياقاضي تعزيرا قتل کولی شي . ځکه دلواطت په سزاو کې قتل راغلی

دی . همدارازکه یوتن په متکرر ډول یوځوک په مثقل اډرانه اشئ وژلی وا چې قتل یې شبه عمد ګڼل کیږي اوقصاص نه په کې راځي البته دیة په کې شته اونه په جنس قتل کې یې سزا قتل شته لکه په عمد کې نو ځکه امیر دغه سړی تعزیرا قتل کولی شي .

او که دغه وړاندینې دوه قیدونه نه وي نوبیایې په جرم تعزیر، نه شي قتل کولی .

وَأَجَازَ أَبُو حَنِيفَةَ التَّعْزِيرَ بِالْقَتْلِ فِيمَا تَكَرَّرَ مِنَ الْجَرَائِمِ. إِذَا كَانَ جِنْسُهُ يُوجِبُ الْقَتْلَ، كَمَا يُقْتَلُ مَنْ تَكَرَّرَ مِنْهُ اللِّوَاطُ أَوِ الْقَتْلُ بِالْمُثَقَّلِ .أحكام القرآن للجصاص ١ / ٦١، وابن عابدين ٣ / ١٨٤ - ١٨٥، والقرطبي ٦ / ١٥١ - ١٥٢ والموسوعة ١٢\ ٢٦٤

اوداستفتاء ددوهمې برخې ځواب دادی : چې تعزیرا قتل ته سیاسة قتل هم ویل کیږي : دسیاسة اوتعزیرا قتل فرق ونشته : لکه دشامي ددي عبارا تو څخه چې معلومیږي :

ويحملون ما جاء عن النبي (ص) وأصحابه من القتل في مثل هذه الجرائم على أنه رأى المصلحة في ذلك ويسمونه القتل سياسة.

و كان حاصله أن له أن يعزر بالقتل في الجرائم التي يعظم بالتكرار وشرع القتل في جنسها، ولهذا أفتى أكثر هم بقتل من أكثر من سب النبي (ص) من أهل الذمة وإن أسلم بعد اخذه، وقالوا يقتل سياسة اه...

ومن ذلك ما سيذكره المصنف من أن للامام قتل السارق سياسة: أي إن تكرر منه.

وسيأتي أيضا قبيل كتاب الجهاد من تكرر الخنق منه في المصر قتل به سياسة لسعية بالفساد، و كل من كان كذلك يدفع شره القتل. الموسوعة الفقهية

حاشية ردالمحتار) ۴ج /ص ۲۳۰

داستفتاء ددریمې برخې ځواب دادی: چې تعزیر دفسق دمباشرة په حالت کې دهرچاوظیفه ده، یعني هر مسلمان بل مجرم ته دفسق په حالت کې تعزیر ور کولای شي ، اودفسق دفعل څخه وروسته له حاکم ،زوج اخاوند دخپلې میرمنې په حق کې اووالداپلار دخپل اولاد په حق کې اځخه پرته بل څوک دتعزیر حق نه لري .

اوداهم باید وپیژنو چې تعزیر بالقتل یواځې امام پورې تعلق لري ، البته دزناء حالت کې زوج هم په خوقیودوسره قتل دزاني یادمزنیې هم کولی شي .

كما في الشامي ۴\ ۷۹ قلت : ومقتضى التعليل بالأمر أن ذلك غير خاص بالإمام، فقد مر أن لكل مسلم إقامة التعزير حال مباشرة المعصية: لأنه مأمور بإزالة المنكر إلا أن يفرق بأنه يمكنه الرفع إلى الإمام فلم تتعين الإقامة عليه، بخلاف الإمام تأمل

وايضافيه ١\ ٤٠٧ قال في البحر : وهو يفيد أن لكل مسلم التعزير بالضرب فإنه لم يقيده بالقاضي الخ بحث عورة الفخذ .

وفي الدر المختار والشامي ٤\ ٦٥ (ويقيمه كل مسلم حال مباشرة المعصية) قنية (و) أما (بعده) ف (ليس ذلك لغير الحاكم) والزوج والمولى كما سيجيء .

وفي الشامي ٤\ ٦٣ باب التعزير : وزاد بعض المتأخرين أن الحد مختص بالإمام والتعزير يفعله الزوج والمولى وكل من رأى أحدا يباشر المعصية.

اوداستفتاء دځلور مي بر خې ځواب : تعزير په پنځه قسمه دی لکه وړاندې چې يې بيان وشو ،مګر په دغه اقسامو کې يوقسم تعزير بالمال دی ، اوتعزير بالمال بيابه لاندې بر خوويشل شوی دی ،

١= حبس المال عن صاحبه . [دځه وخت لپاره دمجرم ځخه دهغه دمال يوه معلومه برخه رااګر ځول اوبيابير ته ور کول]

٢= اتلاف المال . [دمجرم دمال اتلاف]

اودغه اتلاف بيابه ځوډوله سره کيدلی شي :

- بالاحراق [دمال سوزول]
- بالتمزيق [ځيرل]
- بالاراقة [تويول]
- بالتخريب [تخريبول]
- بالكسر [ماتول]
- بالتصدق [خيراتول]

وغيرها : اوداسې نور .....

٣= التغير .

٤= التمليک

دتعزير بالمال په دي اقسامو کې امام ابويوسف رح يواځې دلمړي قسم قائل دی . يعني :دځه مودي لپاره دمال حبس سره چې بيابه يې بيرته مالک ته ور کوي].

اودطرفينو [امام ابوحنيفه اوامام محمد رحمهما الله تعالى] په نزد دتعزير بالمال اقسام مشروع نه دي .

البته : دعلامه ابن تيميه ، ابن قيم ، اوزمور دمذهب ځينو متاخرينوعلماؤ دتعزير بالمال ددوهم قسم اتلاف المال تحريق ، تخريب اوځيني نور صور تونه هم جائز ګڼلي دي .

كمافي نصاب الاحتساب : ۲۶۴ : والاصل في احراق آلات السيات قوله تعالى : ﴿ وانظر الى الهك الذي ظلت عليه عاكفا لنحرقنه ثم للنسفنه .الآية . فكان احراقه سنة موسى عليه السلام فيجوز لنا ايضا لان ماكان مشروعا في الامم الماضية فهومشروع لنا الاان ثبت نسخه ولم يثبت الخ

همدارازپه الدر المختار اور دالمحتار ۴\۱۹۸ کې لیکلي : عن عمر رضی الله تعالى عنه انه احرق بيت الخمار وعن الصفار الزاهدي الامر بتخريب دار الفاسق الخ

ومثله في الهندية ۵\۳۵۳

اوپه منهاج السنن ۲\ ۹۵ کې ددې حدیث لاندې : دتعزیر بهلاک المال دجواز قول هم ذکر کړی دی . قال النبي صلى الله عليه وسلم لقدهممت ان آمر فتيتي أن يجمعوا حزم الحطب ثم آمر بالصلوة فتقام ثم احرق على اقوام .... فيه حجة على جواز التعزير باهلاک المال بخلافه باخذ المال فانه منسوخ الخ .

د کافر ستاینه

الاستفتاء : په نني عصر کې که یو کافر مړ شي نوډیر خلک یې ستاینې کوي ، تر دې چې مسلمانان یې هم ستاینه کوي ، نوپوښتنه دادامینځ ته کیږي چې آیا مسلمان ته د کافر ستاینه رواده او کنه ؟ المستفتي ملااحمد

الجواب حامدا ومصليا وبعد : هو دحربي يعني يرغلګر کافر څخه پر ته دبل کافر ستاینه دهغه ځینو ښو اخلاقو یاصفاتو له امله رواده ، خو داپه دې معنی نه چې ګوندې دغه کافر مقبول عندالله دی ، ځکه دقبولیت عندالله لپاره ایمان ضروري دی ، بلکې له دې امله دهغه مدح رواده چې اصلا بنه اخلاق اوصفات دستایني وړ ګڼل شوي دي ، که څه هم داپه یوه بې ایمانه شخص کې موجود وي .

في احكام القرآن للتهانوي رح ۲\۲۷ تحت قوله تعالى : ومنهم من ان تأمنه بدينار لايؤده اليك .....وفي الآية جواز مدح الكافر بمافيه من خلق حسن . لانه تعالى مدح اهل الامانة من اهل الكتاب وذم الخائنين منهم ، وليس مدحهم من حيث القبول عندالله فانه لاقبول بدون الايمان ؛ بل من حيث أن الخلق الحسنة حسن في نفسه ولوفي كافر ، فانه لم ينتفع به من حيث القبول عندالله فسينتفع في الدنيا بسعة المال..... الخ

وفي المسلم ۱\ ۱۹۶ م ش :عن عائشة قلت : يارسول الله، ابن جدعان كان في الجاهلية يصل الرحم، ويطعم المسكين، فهل ذاک نافعه؟ قال: "لا ينفعه، إنه لم يقل يوما: رب اغفر لي خطيئتي يوم الدين

د اسلامي تاريخ ديوه نوماند شهکار خاطره

آيا داسې انلاين به بيا پيدا شي؟

استاد محمد نعيم

حضرت خالد بن الوليد ؓ په ډېره ميړانه پرله پسې فتوحات وکړل. د فتوحاتو لړۍ د عراق څخه پيل او ترشام ورسيده او په پاى کې يې ديرموك په جګړه کې بری تر لاسه کړ.

کله چې د خلافت چارې حضرت عمر ؓ ته وسپارل شوې ,د هغه لومړی کار داو چې حضرت خالد ؓ د لښکر له مشرۍ څخه ګوښه کړي ,او د هغه پر ځاى حضرت ابو عبيده بن الجراح ؓ د لښکر مشر وټاکي ،سوال دادی چې ولې حضرت خالد ؓ وروسته لدې چې ستر بريالیتوبونه يې لاس ته راوړل له دندې ګوښه کړل شو؟

په دې اړه د هغه خلکو لخوا چې هرڅه او په تيره هغه واقعات چې د صحابو تر منځ پيښ شوې دي، په مادي معيارونو تلي ,زيات خبرې شوې دي.

استاد عقاد د ګوښه کولو لامل بيانوي:

)ځینې خلکو د ګوښه کولو لامل دا په ګوته کړی. چې ګواکې دا د سیالانو سیالي وه، ځینې نور وایي چې حضرت خالد پرته له کومې خطا او تیروتنې څخه ګوښه کړل شو .او ځینې بیا داسې وایي چې دا د حضرت عمر او حضرت خالد تر منځ پخوانی کومه ستونزه پرته وه، او لدې پرته د هغه د ګوښه کولو لپاره هیڅ کوم ښکاره لامل نه و. او له هغه څخه کومه داسې خطا صادره شوې نه وه. چې ټول مسلمانان د هغه له دغه میړانو او پرله پسې بریالیتوبونو څخه د هغې په بدل کې محروم شي.

بیا وایي) که څوک غواړي چې د خپلو ګمانونو نیلی په دې ډګر کې وځغلوي، کولای شي چې دا هم ومني چې حضرت عمر هغه له کومې خطا څخه پرته ګوښه کړ، ځکه چې حضرت عمر ددغه ستر سرلښکر حیثیت او کرامت په خپله خوندي کړی دی او وروسته لدې چې د هغه د ګوښه کولو په اړه راپورته شوې غوغاوې غلې شوې ،خلك یې په دغه پیښه کې له غږیدو څخه منع کړل او ټولو ښارونو ته یې دا ولیکل، چې هغه یې د کوم خیانت او یا بل ناوړه لامل پر اساس ندی ګوښه کړی. .بلکې ددې لپاره یې ګوښه کړ ،چې خلك د هغه د پرله پسې بریاوو په کتنه په فتنه کې ونه لویږي(

بیایې داوفرمایل :زه وویریدم چې خلك به په ده دومره ډاډه او غره شي چې په فتنه کې به ولویږي او د بري اصلي لامل به همدی وګڼي ,لدې کبله مې وغوښتل چې خلك په دې وپوهوم چې د بریاوو اصلي څښتن الله تعالی دی او هرڅه د الله تعالی لخوا کیږي.

کله چې حضرت خالد د لامل پوښتنه وکړه ،حضرت عمر رضی الله عنه ورته وفرمایل : خلك ستا په اړه په فتنه کې وغورځیدل ,زه وویریدم چې د خلکو د ویناوو لامله په فتنه کې ونه غورځیږي، حقیقت خو دادی چې خبره ډېره آسانه وه ,هیڅ ډول غوغا نه وه راپورته شوې ,نه د حضرت خالد لښکر کوم سرغړاوی کړی و ، او نه هم حضرت خالد کومه اندیښنه رامنځ ته کړې وه ,داځکه چې حضرت خالد د حضرت عمر په اړه پوره ډاډمن و ، هغه پوهیده چې عمر رضی الله عنه د مسلمانانو چارواکی دی، او پر ده لازمه ده چې د هغه خبره ومني او غاړه ورته کیږدي، ترڅو چې ده ته یې د ګناه اومعصیت امر نه وي کړی .بل پلوته حضرت خالد دغه ټول کارونه او اعمال یوازې د الله تعالی د رضا د لاس ته راوړلو په خاطر سرته رسول او د هیڅ ډول منصب او مشري غوښتنه یې نه درلوده، ,که د لښکر په وروستی برخه

کې به و. او که په لومړي سرکې، ،دا ټول ورته یو شان وو. ،ددې خبرې هیڅ پروایې نه درلوده، چې هغه مشر دی او که د لښکر عادي غړی،' همدا د اخلاص ننبسه وه او همدا د آخرت د کامیابۍ غوښتنه ده او په دې کې هیڅ شك نشته چې د حضرت خالد په زړه کې لدې پورته د بل شي غوښتنه نه وه .له همدې کبله یې خپل لښکر ته د خپل زړه حال پدې ټکو کې څرګند کړی دی) :ماته له هغه شیې څخه چې یوه ښکلې ناوې راته په کې ډالۍ شي، داسې ناوې چې زه ورسره مینه لرم،. او یا له هغه شیبو څخه چې ماته په کې د زوی زیری راکړل شي،. ډېر غوره بریښي چې د الله تعالی په لار کې د مهاجرینو د یو لښکر سره یوه داسې سړه شپه تیره کړم .چې سهار وختي پر دښمن یرغل وکړم .نو تاسې جهاد مه پریږدئ(امام احمد بن حنبل په یو روایت کې د عبدالملك بن عمیر څخه ددې موضوع په اړه رانقلوي) :حضرت عمر ابو عبیده بن الجراح د شام د لښکر مشر وټاکه، او خالد بن الولید یې ګوښه کړ ،حضرت خالد وویل :تاسې ته یې ددغه امت امین را استولی دی .ما دا خبره له رسول الله څخه د ابو عبیده په اړه اوریدلې ده. حضرت ابو عبیده وویل ټ:ماله رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې فرمایل یې) :خالد د الله تعالی له تورو څخه یوه توره ،او د خپلې کورنۍ غوره ځوان دی)

امام طبري په خپل تاریخ کې روایت کوي) حضرت ابو عبیده ټد خالد ټد ګوښه کیدو مکتوب سل ورځې وروسته لدې چې ابو عبیده ته ورسید ،خالد ته وسپاره ،کله چې حضرت خالد ولوسته را روان شو او ابو عبیده ته ورغی ویې فرمایل:

الله تعالی دې تاته ښښنه وکړي تاته د امیرالمؤمنین مکتوب رارسیدلی دی او ته ما نه خبروې او په ما پسې لمونځ کوې پداسې حال کې چې مشري خوستا ده؟ ابوعبیده وفرمایل :الله تعالی دې تاته هم ښښنه وکړي ما غوښتل چې زما څخه وړاندې بل څوك تاته دا خبر در کړي مانه غوښتل چې تا)د ابوبکر صدیق د مړینې په خبر سره (لازیات غمجن کړم ،غوښتل مې چې حالات عادي شي بیامې اراده وه چې تا خبر کړم .زه د دنیا مشري نه غواړم او نه ددنیا لپاره کار کوم ،دا څه چې ګورې ټول له منځه تلونکی دي ،ما او تاسره ورونه یو او د الله د امر ساتنه او پلي کونه راسپارل شوې ده .دا هیڅ پروا نلري، چې دیو شخص دیني او دنیوي چارې د هغه یو مسلمان ورور ته وسپارل شي، بلکې کیدای شي چې

دغه مشر تر ټولو زيات فتنو ته ورنژدې وي ،او په خطا او تيروتنه کې پريوزي .مګر هغه چې الله تعالى يې په خپل احسان سره وساتي ،او داسې خلك ډېر لږ دي.

کله چې د خالد ؓاو ابو عبيده ؓپه څير د اتلانو ترمنځ دغه پيښه وګوري ،زړونه ورته ريږدي ،او سترګې اوښکې بهوي دا هغه اتلان دي .چې د اسلام دښمنان غواړي ،زمونږ په ذهنونو کې يې تت او پيکه کړي او ددوی په اړه زمونږ ډاډ او اطمينان متزلزل کړي .او په خواشيني سره داهم وايو چې يو شمير په نامه مسلمان ليکوالان هم د همدوی په پل روان دي په داسې حال کې چې د اسلامي تاريخ په اړه هيڅ ډول معلومات نلري ،دا هرڅه ددې لپاره کيږي ترڅو مسلمانان د خپل ويارلي تاريخ څخه وشلوي او د ځان لپاره د اقتداء او پيروي بيلګه ونه مومي.

له دې وروسته مونږ په ډاګه د اوايو چې عمر فاروق رضی الله عنه ددې لپاره حضرت خالد ؓله دندې ګوښه کړ. چې ځينې د ضعيف ايمان لرونکي مسلمانان د هغه په دغه اتلولیو تيرنه وځي او داګمان ونکړي چې که خالد د لښکر مشر نه وي نو دغه بريالیتوبونه به هم نه وي او داخبره د اسلام د سوچه عقيدې سره اړخ لګوي او حضرت عمر ؓخورا زيات باريك بين و، هغه دا نشوه زغملای چې په دې سره دې د مسلمانانو عقيدې ته څه زيان ورسيږي له همدې کبله يې خورا په آسانۍ سره حضرت خالد ګوښه کړ له هغې وروسته هم د مسلمانانو بريالیتوبونه روان و او حضرت خالد د ابو عبيده په لښکر کې د يوټولي مشر و هيڅ ډول سستي په کې پيدا نشوه او نه يې خپل احساسات او انګيزه له لاسه ورکړه او لږ وروسته به د دمشق په فتح کې د هغه دريځ وګورو.

کله چې د روميانو لښکر ماتې وخوړه هغوی د دمشق خواته ولاړل او هر قل انطاکيې خواته په شا شو ،د روميانو لښکرې کرار کرار د اردن لوري ته وخوځيدې او تقريباً اتيا زره لښکر د اردن فحل په سيمه کې راټول شو ، ،ابو عبيده حيران شو ، چې اوس کوم پلوته ولاړ شي؟ د دمشق په لور وخوځيږي او هلته مرکز ونيسي او که د فحل لوري ته راوګرځي.

اميرالمؤمنين حضرت عمر ته يې دغه ستونزه وليکله او له هغه څخه يې لارښوونه وغوښته، د حضرت عمر له خوا ورته يو داسې ځواب راغی، چې ګواکې هغه دغه دريځ له ډېر نژدې څخه تعقيب کړی دی هغه ورته وليکل) په دمشق پيل وکړه، ،ځکه چې هغه د شام

کلا ده او درومي سلطنت اساسي خونه بلل کيږي .د هغې لوري ته وخوځيږه اود فحل په سيمه کې راټول شوی لښکر په يو څو آسونو بوخت وساته، چې د هغوی مخې ته ځان ورښکاره کړي .که چيرې الله تعالی له دمشق څخه وړاندې دغه سيمه فتحه کړه .نو همدا خو زمونږ خوښه ده او که چيرې دمشق تر مخکې فتحه شو .هلته څوک سرپرست پرېږده او ته د خپل لښکر سره د فحل خواته ولاړ شه .د فحل د فتحه کيدو وروسته ته او خالد ټيو ځای د حمص لوري ته وخوځيږئ ، عمر و بن العاص او شرحبيل بن حسنه د اردن او فلسطين په سيمو کې پرېږدئ.

په ربښتيا چې حضرت عمر او د هغه د شورى غړو د جګړې حالات په ډېره دقيقه توګه څارل ،اود جګړو د پراختيا سره سره يې پر هغې ډېر ژور نظر ساته.

د لويديځ يو نامتو تاريخ پوه "ارنولد توبني "په خپل کتاب " اسلامي دعوت "کې ددې جګړې په اړه ليکلي دي) :کله چې اسلامي لښکر د اردن سيمې ته ورسيد او ابو عبيده؇ دفحل په سيمه کې واړول د سيمې مسيحي اوسيدونکو عربو مسلمانانو ته وليکل :اې مسلمانانو !تاسې زمونږ لپاره د رومیانو څخه غوره يست .که څه هم چې د رومیانو سره زمونږ دين شريک دی ،.تاسې له مونږ سره وفادار ياست ،تاسې پر مونږ ډېر زړه سوی لرئ او پر مونږ ظلم او تيری نه کوئ .ستاسې حکومت زمونږ لپاره ډېر ښه دی، خو دوی زمونږ په سيمو او چارو غلبه کړې ده...

د حمص د ښار اوسيدونکو د هرقل د لښکر پرمخ د ښار دروازې وټرلې ،او مسلمانانو ته يې وليکل چې ستاسې حکومت او عدالت د دوی لپاره د رومیانو د ظلم او تيری څخه ډېر غوره دی.(

"اسلامي تاريخ ګام په ګام "څخه

دجنوري دمیاشتنې راپور

دروان (۲۰۱۴م) کال دجنوري په میاشت کي هم دتېرومیاشتوپه شان داسلامي امارت ددعوت ،ارشاد ،جلب اوجذب کمیسیون په هڅواودځایې مجاهدینوپه ملاتړدافغانستان په مختلفوولایاتوکي ۲۲۸تنه چې دکابل اداري اړوندبیلابیلوارګانونوکي په کاربوخت وو دحقایقوپه درک کولوددغه فاسداوګوډاګي رژیم څخه راووتل اوداسلامي امارت دمجاهدینوسره یوځای شول.

ګرانولوستونکوهمداهم دتسلیم شووکسانوتفصیلي میاشتنې ارقام :

۱	پکتیکا	۱۰ تنه عسکر ،
۲	کندز	۵ تنه عسکر ،
۳	ننګرهار	۴۸ تنه عسکر ،
۴	بدخشان	۱ تنه عسکر
۵	لوګر:	۳ تنه عسکر ،
۶	کنړ	۸۱ تنه عسکر ،
۷	غزني:	۱۱ تنه عسکر
۸	فراه:	۲تنه عسکر
۹	ارزګان:	۱۵ تنه عسکر
۱۰	فاریاب:	۱۵ تنه عسکر
۱۱	دایکندي:	۱۲تنه عسکر
۱۲	بادغیس:	۱تن عسکر
۱۳	کندهار:	۷تنه عسکر

۱۴	زابل:	۴تنه عسکر
۱۵	سرپل:	۴۲ تنه عسکر
۱۲	هرات:	۳ تنه عسکر
۱۷	هلمند:	۴تنه عسکر

داسلامي امارت داتلو مجاهدینو سره یوځای شوو بادرکه هیوادوالو مختلفه النوع لویې اووړې وسلې ،مخابرې ،وسایط اویوزیات شمېر مهمات مجاهدینو ته وسپارل.

دکابل دمنفور رژیم څخه راجلاشوو او داسلامي امارت له مجاهدینو سره یوځای شوو هیوادوالو وعده وکړه چي نوربه دخپل ددین اووطن دخارجي اوداخلي مزدورانو سره هیڅ رازتعلق نه ساتي ،دخپل مظلوم ولس او مجاهدینو وروڼو سره به همکاري کوي ،ترڅولوی خدای جل جلاله ژرترژره زموږله ویاړلې خاوري څخه دکفر،فسق ،،اشغال ،فحشاءاوګمراهیو کرغیړن ټغرټول کړي اودمسلمانانو دخوښي یوسوچه اسلامي واکمني رامنځته کړي چي دټول افغانان پرې راټول شي.

داسلامي امارت ددعوت ،ارشاد ،جلب اوجذب کمیسیون مشرتابه دوی ته هرکلی ووایه ،انعامونه اوجایزې یې ورکړې اوددوی همدانیک اقدام یې ډیروستایه چي دیرغلګرو اولاسپوڅي رژیم څخه یې راووتل اودافغانستان اسلامي امارت دمجاهدینو سره یې خپل پیوستون اعلان کړ.

دافغانستان اسلامي امارت دګران هیواد څخه دوحشي یرغلګرو دشړلو اوداسلامي اوملي نظام درامنځته کولو په موخه دران سپېڅلی مقاومت په لړکي دنظامي فعالیت ترڅنګ سیاسي ،فرهنګي ،تعلیمي اودعوتي هڅي هم ګړندۍ کړي دي داسلامي امارت غښتلي مجاهدین دپراخو پوځي لاسته راوړنو څخه علاوه هره میاشت دهیواد په بیلابیلو ولایتونو اوولسوالیو کي ددعوت اوارشاد کمیسیون په هڅولکه پورته چي ذکرشول دکابل اداري څخه په سلهاوو تنه کارمندان راوزي اوداسلامي امارت غیږي ته پناراوړي.

د اسلام غزوات او سرايا

احد جنګ

شلمه برخه

ابو ظهير

امام شافعي (رحمه الله) وايي: هم دلته (الشيخين کې) د رسول الله (ﷺ) په وراندې هغه اوولس صحابه وراندې شول دچا عمر ونه چې له څوارلس کلونو ټيټ وو، رسول الله (ﷺ) هغوئ ټول دنابالغوپه زمره کې وشمارل او بيرته يې وليږل (زرقاني ۲ټوک ۲۵مخ، سيرة المصطفى مولانا کاندهلوي ۲برخه ۵۳۱مخ)

په هغوئ کې رافع بن خديج (۱۸) هم و، د هغه عمر هم د څوارلس کلو شاوخوا و خو هغه داهوښياري وکړه چې کله رسول الله (ﷺ) ته ورغی دخپلو پښو دګوتو په سرونو ودريده، څو له وني جګ بنکاره شي، رسول الله (ﷺ) هغه ته اجازت ورکړ اوبيرته يې ونه ليږه، هم دا راز دهغه په باب رسول الله (ﷺ) ته داهم وويل شول چې نوموړی د غشو په ويشتو کې بې پناه مهارت لري.

عمر بن عبد العزيز (رحمه الله) يو ځل له نافع نه وپوښتل:

عبد الله بن عمر (رحمه الله) په کومو غزواتو کې له رسول الله (ﷺ) ګډون کړی دی؟

نافع وويل:

ماته پخپله ابن عمر (رحمه الله) ويلي: کله چې دبدر غزوه کېده زه هغه مهال ديارلس کلن وم او کله چې د احد جنګ پيښ شو، زه څوارلس کلن وم، ما بدر ته دتلو اراده نه وه کړې، خو احد ته مي غوښته لاړشم اوپه جنګ کې ګډون وکړم، له رسول الله (ﷺ) مي غوښتنه وکړه، خو دکم عمرې پروجه يې ځما غوښتنه ونه منله، هم داسي زيدبن ثابت اوعرابه بن اوس (رضي الله عنهما) دکم عمرې په وجه بيرته وليږل اورافع بن خديج ته

دجنګ قدر په وجه اجازه ور کړه. کله چې دخندق غزوه کېده ، ځما عمر پنځلس کاله پوره شوی و . ماته رسول الله (ـ) پکې دګډون اجازه راکړه او ما درسول الله (ـ) سره یوځای په خندق کې ګډون وکړ.

ددې حدیث په اوریدو عمربن عبد العزیز (رحمه الله) کاتب ته حکم وکړ ژر داحدیث ولیکه، کوم خلک چې خپلو ځامنو او ورونو لپاره له بیت المال نه دوظیفې غوښتنه کوي. دپوره تحقیق وروسته پنځلس کلن ځوانان دې دمجاهدینو او مقاتلینو په فهرست کې ځای کړای شي او هم دې له بیت المال نه هغوئ ته وظیفه مقرر شي او چې څوک دپنځلس کلو نه کم عمر لري ، دهغوئ نومونه دي د "ذریه" ماشومانو فهرست کې ولیکل شي (عیون الاثر ۲۳۲)

کله چې رافع بن خدیج (۸۸) ته رسول الله (ـ) دتګ اجازه وکړه ، سمرة بن جندب (●) خپل علاتي پلار "مری بن سنان" (●) ته دډېر حسرت او اافسوس په لهجه وویل:

اې پلاره ! رافع ته یې اجازه وکړه اوزه پاتې شوم. حال داچې زه دهغه نه قوي یم اورافع څملوم !

مری بن سنان (●) وویل:

یارسول الله (تا رافع ته اجازه وکړه ، اوځما ځوی دي پیر ته ستون کړ. حال داچې ځما ځوی هغه څملوي

رسول الله (ـ) هغوئ (رافع او سمره ﷺ) دواړه په غېږه ور وستل ربښتیا سمره رافع څملاوه . په دې سره رسول الله (ـ) سمره" ته هم ورسره دتګ اجازت ورکړ (طبری ۳ټوک ۱۲مخ)

ابن سعد لیکي: په دې کې لمر پریوت اومابنام شو. بلال (●) اذان وکړ . رسول الله (ـ) دصحابه ووسره یوځای دمابنام لمونځ اداکړ او په الشیخین کې یې شپه شوه.

رسول الله (ـ) خپله بنی النجار ته لاړ اوپیر ته یې دپنځوس تنوصحابه وو په سر محمد بن مسلمه (ـ) د پهرې اوګزمې لپاره امیر مقرر کړ ،هغوئ ټوله شپه دلښکر څلور خواته په پهره اوګزمه تیره کړه.

مشرکان خبر شول چې رسول الله (ـ) هم روان شوی. هغوئ ټول غونډشول او عکرمه بن ابي جهل یې دنورومشرکانو دیوې ډلې لپاره د پهرې اوګزمې مشر مقرر کړ.

رسول الله (ـ) د همدې شپې په وروستی برخه کې "له الشیخین" څخه روان شو "ابو حثمه الحارثي" ورسره دلاره بلد په توګه ته. دسهار لمانځه وخت کیده چې احد ته ورسید . بلال (ـ) ته یې وویل: بلاله !اذان وکړه هغه اذان او اقامت وکړ. بیا رسول الله (ـ) صحابه صف ، صف ودرول او دسهار لمونځ یې وکړ.

دمنافقانو تیښته:

احدته له رسیدو وروسته ر ئس المنافقین "عبد الله بن ابی" ځان سره درې سوه کسیزه ډله بیولې وه، هغوئ دابن ابی په حکم بیر ته ستانه شول چې هغه ویل:

تاځمارایه ردکړه !او د څوتنو ماشومانو خبره دې اومنله! مونږ ولې بې ځایه ځانونه دمرګ په خوله کې وترو. مونږ داجنګ نه ګڼو . که ګډلی مونو له تاسره موپکې ملګرتیا کوله.

دهمدوئ په باره کې داایت نازل شو:

وَلْيَعْلَمَ الَّذِينَ نَافَقُوا وَقِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا قَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوِ ادْفَعُوا قَالُوا لَوْ نَعْلَمُ قِتَالًا لَاتَّبَعْنَاكُمْ هُمْ لِلْكُفْرِ يَوْمَئِذٍ أَقْرَبُ مِنْهُمْ لِلْإِيمَانِ يَقُولُونَ بِأَفْوَاهِهِمْ مَا لَيْسَ فِي قُلُوبِهِمْ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يَكْتُمُونَ (ال عمرآن ۱۶۷ایتَ)

دهغوئ دتیښتې وروسته له رسول الله (ـ) سره اووه سوه صحابه پاتې شول، په هغوئ کې سل تنو ځانونه په زغرو پوښلي وو او په ټول لښکر کې ایله دوه اسونه وو . یو اس درسول الله (ـ) واوبل د "ابوبردة بن نیار حارثه" (●) و (طبقات ۱ټوک ۲۲۹مخ طبری ۴ټوک ۱۲مخ)

د"خزرج" قبیلې نه "بني سلمه" او له "اوس "نه "بنی حارثه" هم دیبر ته تیښتې اراده وکړه . څو دادواړه دلښکر دواړو غاړو ته وي. په دې سره الهي قدرت له مسلمانانو مرسته وکړه چې هغوئ ته په یوځای دیبر ته تیښتې موقع په لاس ورنغله. دهغوئ په اړه دااایت نازل شو:

إِذْ هَمَّتْ طَائِفَتَانِ مِنْكُمْ أَنْ تَفْشَلَا وَاللَّهُ وَلِيُّهُمَا وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ (۱۲۲)

یادکړئ هغه وخت چې کله همت دلاسه ورکړ له تاسونه دوه ډلو. الله (ﷻ) دهغوئ مددګار و. په دې سره هغوئ له بیر ته تګ نه خوندي پاتې شول اومسلمانانو ته په الله (ﷻ) باندې توکل پکار دی

دلښکر صفونه ترڼ:

رسول الله (ـ) دلښکر په وړاندې راغې اوصحابه یې په صفونو کې ودرول دغه مهال له اس نه بشکته شو او دلښکر لیکې جوړولې ، میمنه اومیسره یې وتاکلې ، رسول الله (ـ) د لښکر لپاره داسې موقعیت غوره کړ چې احد غر یې شاته او مدینې منوره یې مخې ته راغله. دغه مهال درسول الله (ـ) په مبارک تن دوه زغرې وې او په سر مبارک یې دوسپنې "مغفر وبیضه" خولې وه . د"عینین" په نوم دغره چول چې دلښکر کښ لور ته راته. دهغه له بره رسول الله (ـ) پنځوس تنه غشي ویشتونکي کینول، عبد الله بن جبیر (●) دهغوئ لپاره امیر غوره کړ هغوئ یې پوه کړل چې تاسي به په دې ځای اوسنګر کې وئ او له شاه به زمونږ دفاع کوئ، که تاسو

ولیدل چې مونږ دغنیمت مالونو په ټولولو لګیایو هم تاسو به مونږ ته نه راځئ او که لیدل مو چې مونږ وژل کېږو هم تاسو به زمونږ سره مرسته نه کوئ!

مشرکان هم راغلل اودخپلو صفونو په جوړولو لګیا شول. هغوئ په میمنه "خالد بن ولید" او په میسره "عکرمه بن ابی جهل" مقرر کړل. په دواړو یې دوه سوه اسونه هم ولګمارل. په سپرو یې "صفوان بن امیه" مشر مقرر کړ او "عمرو بن العاص" یې په غشو ویشتونکو مشر کړ. رسول الله (ـ) وپوښتل دمشرکانو بیرغ چا سره دی. صحابه وو وویل: "عبد الدار" سره رسول الله (ـ) وفرمایل: مونږ په عهد تر هرچا زیات دوفا کولو حقدار یو "مصعب بن عمیر ● ته یې غږ کړ راشه! ته بیرغ پورته کړه! هغه بیرغ پورته کړ اودرسول الله (ـ) نه مخکې لاړ ودریده!

دقریشو دلښکر شمیر:

دهغوئ لښکر کې درې زره جنګیالي وو. اووه سوه تنو زغرې اغوستې وې اودوه سوه په اسونوسپاره وو، درې زره اوښان وو. دمکې دپنځلس مشرانو میرمنې هم راغلې وې. هغوئ دشعرونو په ویلو نارینه وو ته جوش او جذبه ورکوله (زرقاني ۲ټوک ۲۶مخ)

له هغوئ (قریشو) سره چې کومې میرمنې راغلې وې پکې دځینونومونه په لاندې ډول دي:

۱- هنده بنت عتبه حکیم — دابوسفیان میرمن اودمعاویه مور
۲- فاطمه بنت ولید — دحارث بن هشام میرمن
۳- برزه بنت مسعود — دصفوان بن امیه میرمن
۴- ریطه بنت شیبه — دعمرو بن العاص میرمن
۵- سلافه بنت سعد — دطلحه بن ابی طلحه میرمن
۶- خناس بنت مالک — دمصعب ابن عمیر (●) مور
۷- ام حکیم بنت حارث بن هشام دابوجهل دځوی عکرمه میرمن
۸عمرة بنت علقمه



المرتضى کرم الله وجهه

دامیر المؤمنین علی ابن ابي طالب ● کورنی ژوند لیک

اوپه راتلونکي یې اغیزې :

لیکوال داسلامي نړۍ مفکر عالم مولانا سید ابوالحسن علي ندوي (رح) ژباړه : شهاب ' منصور ' ۷ برخه

دحضرت فاطمه اوعلي (رضي الله عنهما) عقد:

دهجرت په دویم کال رسول الله (ﷺ) دخپلې کرانې لور (فاطمهؓ رضی الله عنها) دنکاح عقد دعلي بن ابي طالب (رضی الله عنه) سره وکړ، دغه مهال رسول الله (ﷺ) هغې (حضرت فاطمه رضی الله عنها) ته وفرمایل: ماستا نکاح پخپلو اهل بیتو کې له یو غوره سړي سره کړې، بیا یې دعا وکړه او په دواړو یې اوبه وشیندلې (ازالة الخفاء ۲۵۴مخ)

ابوعمر له عبید الله بن محمد بن سماک بن جعفر الهاشمي نه داروایت کړی چې: رسول الله (ﷺ) دخپلې لور (حضرت فاطمه (رضی الله عنها) نکاح دحضرت علي (●) سره داحد جنګ نه وروسته وکړه. دغه مهال هغه (حضرت فاطمه رضی الله عنها دپنځلس کالو او پنځونیمو میاشتوپه عمر وه اوحضرت علي بن ابي طالب (●) عمر یو یشت کاله او پنځه میاشتې و.

حضرت شاه ولي الله محدث دهلوي (رحمه الله) ته ددې روایت په منلو کې تردد شته، په دې چې داحد غزوه دهجرت په دریم کال شوال کې پیښه شوې اود همدې (احد) غزوې وروسته حضرت علي (●) حضرت فاطمه (رضی الله عنها) ته ووېل: "اغسلي عني الدم" ځمالهبدنه دوینو داغونه ووینځه، چې د دواړو نکاح نه وه شوې بیا څنګه دا ممکن ده (ازالة الخفاء ۲۵۴مخ)

صحیح داده چې له احد غزوې وراندې ددواړو نکاح شوې وه، ددې تر ټولو لوی دلیل دادی چې دا خبره له تاریخي پلوه هم منلې ده، چې د حضرت حسن (●) زوکړه، دهجرت په ۳ کال دشعبان په منځ کې (په بل قول: رمضان کې) شوې، د احد وروسته دنکاح په اړه روایت په هیڅ صورت صحیح او دمنلو ندی

دحضرت فاطمه (رضی الله عنها) او حضرت علي (ﷺ) دنکاح په لړ کې مفصل حدیث په "مسند علي" کې راغلی، حضرت علي (ﷺ) درسول الله (ـ) په وراندې خطبه (پیغام) څه ډول ولیږه؟ هغه وایي:

ماغوښتل رسول الله (ﷺ) ته په دې اړه پیغام ولیږم، خو په زړه کې به مي ویل چې اوس خوزه تش لاس یم هیڅ راسره نشته! څنګه پیغام ولیږم؟ بیابه راته له رسول الله (ـ) سره خپل قرابت او نیږدیوالی راپه زړه شو، ولې هغه محبت اوشفقت چې درسول الله (ـ) په ماباندې و، دهر زیات و، یوه ورځ مي همت وکړ، ورغلم رسول الله (ـ) ته مې وویل، رسول الله (ـ) وفرمایل: تا سره څه شته؟ ماعرض وکړ: هیڅ نشته راسره، وې فرمایل: تاته په فلاني وخت کې چې ماد "حطیمه" په نوم زغره درکړې وه هغه درسره ده؟ ماعرض وکړ هو! هغه راسره شته، وې فرمایل: هغه دې (فاطمه رضی الله عنها ته ورکړه) ماهغه ورکړه (یعنې دمهر په توګه)

(مسندالامام احمدبن حنبل مسند علی بن ابی طالب ●)

عطاء بن السائب له خپل پلار او هغه له حضرت علي (ﷺ) روایت کوي: چې رسول الله (ـ) حضرت فاطمه (رضی الله عنها) په یوه ټیکرې کې رخصت کړه اوپه جهیز کې یې ورته یو مشک، یوه دخرمني تکیه ورکړه، چې د "اذخر" له پانو ډکه شوې وه، کوم چې یو خوشبویه وابنه دی او په عربو کې موندل کیږي

ځیرنه:

دمعتبرو اوثقه روایتونو څخه معلومیږي چې حضرت ابوبکر (صدیق ﷺ) حضرت علی (●) ته له حضرت فاطمه (رضی الله عنها) سره دواده سامان او نورو څیزونو په اړه هم مرسته وکړه، چې شیعه عالمان هم په دې اعتراف لري (وګورئ الامالی شیخ ابی جعفر اطوسی ۱ټوک ۲۹ مخ نوی چاپ نجف اشرف عراق)

د علي ﷺ او فاطمه رضی الله عنها اقتصادي وضعیت:

علي اوفاطمه (رضی الله عنها) (په رسول الله (ـ) زیات ګران ول اورسول الله (ـ) (چې الله ﷻ ته تر هر چازیات ګران و) ژوندیې ساده او له صبر ډک و، "هناد" له "عطاء" نه روایت کوي چې ماته ویل شوي: حضرت علي (ﷺ) فرمایل: په مونږ داسي دهر ورځې راغلي چې په کور کې مو دخوراک لپاره هیڅ هم نه لرل اونه به دنبي (ـ) سره څه ووّ، په همدې زمانه کې یوه ورځ بیرون له کوره ووتم، لار کې مي یو دینار پروت ولید، تکان مي وخوړ او ودریدم، په زړه کې مي داسوچ کاوه، چې راپورته یې کړم کنه؟ خو ولږه راباندې دومره قوې وه چې دپورته کولو فیصله مي وکړه، راپورته مي کړه، دهغو اوښانو له څښتنانو مي اوږه واخیستل کومو

چې له بيرونه مدينې ته اوړه راوړل. بيا مې هغه اوړه راوړل فاطمه (رضی الله عنها) ته مې ور کړل، څو ترې ډوډی پخه کړي. هغه يې په اغږلو لګيا شوه، خو د زياتې ولږې نه دومره کمزوري وه چې د اغږلو دوران کې به يې لاسونه له لوبني خطاء کيدل اوخوږيدل. په څه تکليف يې واغږل اوډودی يې پخه کړه. ما رسول الله (ـ) ته راوړه اوټوله کيسه مې ور ته عرض کړه وي فرمايل: وي خوږ الله (ﷻ) دا روزې ستاسي له لاړې مونږ ته هم راکړه (کنز العمال للعلامه المتقی برهانپوري ۷ټوک ۲۲۸مخ) دا رويت ابوداود له سهل بن سعد نه په يوه اوږده حديث کې نقل کړی دی (۱ټوک ۲۴۰ مخ)

علي (●) فرمايل: ما دفاطمه بنت محمد ـ سره په داسي حالت کې نکاح وکړه چې نه ما سره اونه دهغې سره له يوې څرمنې پرته بله بستره نه وه. مونږ په هغه دشپې ويده کيدوبه او دورځې به مو اوزې ته وابنه اچول ددې پرته نه مونږ سره خادم و. (کنز العمال ۷ټوک ۱۳۳مخ)

طبراني په معتبرو اسنادو (اسنادحسن) نقل کړې چې حضرت فاطمه (رضی الله عنها) ويل: يوه ورځ رسول الله (ـ) د دوئ کره راغی وي وفرمايل: ځما بچيان چيرې دي يعنې حسن اوحسين ﷺ ما (فاطمه ۸۸) ورته وويل: نن چې مونږ سهار راپورته شوي يو. زمونږ کور کې دومره څه نه وه چې دغابنې لاندې مې مو کړي واى. دهغوئ پلار ويل: دواړه زه ددې لپاره بيرون بوځم، که کور کې وي بيا تاته ژاړي او تاسره خوشه نشته. هغه دفلاني يهودي خو اته لاړ. رسول الله (ـ) پسي هلته ورغی. وي ليدل چې ماشومان ديوې "صراحي" سره لوبيدل او په مخ کې يې له نورو دخورو پاتې دغدارې شان خرماوي ايښي وي. رسول الله (ـ) وفرمايل: علي! ماشومان کور ته بوځه گرمي په زياتيدو ده. هغه وويل يا رسول الله! نن سهار راهيسي زمونږ کور کې هيڅ هم نشته. که ته لږ ځنډ تم شي. زه دفاطمه رضی الله عنها) لپاره به لږ خرماوي ټولې کړم. رسول الله (ـ) کيناست، تر دې چې دفاطمه (رضی الله عنها) لپاره يې لږ خرماوي ټولې کړي. علي (ﷺ) هغه په ټوته کې وترلې اوبيا هغوئ دواړه په غيږ کې پورته کړل او کور ته لاړل.

امام بخاري رح دحضرت علي (●) نه روايت کوي: چې حضرت فاطمه (رضی الله عنها) د پرلپسي ميچنې گرزولو له امله چې هر وخت ستړې وه، خبره شوه رسول الله (ـ) ته غلامانان راغلي. رسول الله (ـ) ته ورغله ليکن رسول الله (ـ) نه وه، هغې حضرت عايشه (رضی الله عنها) ته خبره يادە کړه، حضرت عايشه (رضی الله عنها) رسول الله (ـ) ته عرض کړه، بيا رسول الله (ـ) زمونږ کور ته راغی. زمونږ دخوب ترځايه راغی. مونږ پورته شولو. وي فرمايل: پخپل ځای کينئ پورته کښرې مه. دغه مهال ما درسول الله (ـ) دمبارک قدم يخوالی پخپله سينه کې محسوس کړ. بيا رسول الله (ـ) وفرمايل: تاسو دواړو چې دکوم څيز غوښتنه کړيده زه تاسو ته يوبل غوره څيز ونه بنايم؟ هر کله چې تاسي څملاستئ نو ۳۴ ځله، الله اکبر. ۳۳ ځله الحمد الله او د ۳۳ ځله

سبحان الله لولئ دا به تاسو دواړو ته له هغه څه نه زيات کومک در کړي د کوم چې غوښتنه کوئ (بخاری کتاب الجهاد باب الدليل على ان الخمس لنوائب رسول الله ـ)

ه بل روايت کې داواقعه داسې راغلې: رسول الله (ـ)وفرمايل: زه "اهل صفه" پريږدم څوک چې زياتې لوړې دېر کمزورې کړي ؟ تاسو ته غلام نشم در کولی. ما سره داهل صفه وو دخوړو لپاره څه نشته. غلامان پلورم ورباندې دهغوئ لګښتونه پوره کوم.

درسول الله (ـ)داسانتيا لپاره زيار:

ددومره زياتې فاقې. لوړې او تنګ لاسې باوجود علي (●) درسول الله (ـ) دراحت لپاره. او دالله (ﷻ)لور ته ددعوت اوجهاد لپاره يوه دقيقه هم په غفلت کې نه تيروله او نه يې ځان وروسته کاوه.

ابن عساکر له حضرت عبد الله بن عباس (رضي الله عنه) نه روايت کړی وايي: يوه ورځ درسول الله(صلى الله عليه وسلم) په کور کې فاقه وه، حضرت علي (●) ته معلومه شوه. هغه دمزدورۍ په تلاش له کوره ووت. څو دومره شی پيدا کړي چې درسول الله (ـ) ضرورت پوره شي. په دې پلټنه کې ديوه يهودي باغ ته ورغی. دهغه باغ ته له کوهې نه داوبورا ويستو ذيموارې يې واخيسته. او ديوې بوکې اوبو راويستلو اجوره يوه خرما وتا کله. حضرت علي(●) اوولس بوکې اوبه وويستې. يهودي ور ته واک ور کړ چې هر قسم خرماوي خوښوي ترې اوولس دانې پورته کړه. علي (رضي الله عنه) عجوه خرما خوښه کړه اوولس دانې پورته کړې او رسول الله(ـ) ته يې راوړې. رسول الله (ـ)وفرمايل: علي! دادي کوم ځايه راوړي؟ علي(رضي الله عنه) عرض وکړ: يا نبی الله! ماته معلومه شوه، چې نن تاسو دفاقې سره مخ ياست ! له دې وجې زه په مزدورۍ پسې ووتم. چې يو څه دخوراک پيدا کړم، رسول الله (ـ) وفرمايل: ته دېته دالله او دالله درسول سره محبت تيار کړي ؟ هغه عرض وکړ: هو! يا رسول الله ! رسول الله (ـ) وفرمايل: دالله او رسول الله سره محبت کوونکی داسې څوک نشته، چې په هغه افلاس دومره تيز نه وي راغلی لکه دسيلاب اوبه چې پخپل لور توندې بهيږي اوڅوک چې دالله او دهغه درسول سره محبت کوي هغه ته پکار دي چې دمصايبو په مخنيوي کې ډال شي، يعني دساتنې اسباب برابر کړي ځيرنه: عجوه دمدينې منورې په بنو اوخوږو خرماوو کې شمارده. خلک هغه تبر کاً غوره ګڼي نوربيا

جنګي جنايتونه (جنوري)

سيدسعيد

دروان (۲۰۱۴ز،) کال دجنوري په ۲مه نيټه رسنيوخبرور کړچي :دکاپيساولايت داله سای ولسوالي په بازارکي دطالبانواوداخلي عسکروترمنځ ترنښتي وروسته دکورنيوعسکروپه ډزوکي ديوې ميرمني اويوه ماشوم په ګډون څلوروتنو ملکي هيوادوالوته مرګ ژوبله اوښتې ده .

دجنوري په ۴ مه فراه ولايت دبالابوک ولسوالي دشيوان سيمه کي داستخباراتواړوندعسکرواواربکيانو څلويښت تنه ولسي وګړي بنديان اوشکنجه کړي دي، همداولسي خلګ په دغه سيمه کي دطالبانوله لوري ديواربکی دنيول کيدوپه جرم !بنديان شول،وروسته خلګودولسوال اواړونده ارګانونوددغه عمل پرضدپراخي مظاهرې وکړې اودخپلوخلګو دژر تر ژره خوشي کيدو غوښتنه يې کوله .

دجنوري په ۲مه نيټه اشغالګرو ځواکونوداخلي عسکروپه ملتياديميدان وردګ ولايت دسيدابادو لسوالي دشينز درې پرسيرک کلي دچاپې پرمهال لومړی دخلګوکورونه تلاشي کړي بيادکلي جومات ته تللي دمسجداوقران عظيم الشان بې عزتي يې کړې .

عيني شاهدانو رسينوته وېلي چې يرغلګرواوکورنيوعسکرودکورنود پلټنې پرمهال سپين ږيري،زنانه اوماشومان له خپلوکورونوڅخه وتنوته اړايستلي اودژمي په سړه هواکي يې ترسهاره ترشنه اسمان لاندي ايسار کړي وو،نوروعسکروبياپه دغه شپه دپلټنې په پلمه دجومات صحن تخريب کړی،دمسجدپه المارياوکي دقران کريم اوسورت يس ګڼې نسخې يې پرمځکه غورځولي اوپاڼې پاڼې کړي ، همدارازدسيمه ييزوخلګوله خولې ويل شوي ،سهارچې دوی جومات ته ورغلل وحشي عسکروپه يادشوي جومات کي چې دحاجي هزارګل په نوم مشهوردی ګندګي هم کړې اومسجديې بيخي په بل مخ اړولی ؤ.خلګوديرغلګرواوداخلي عسکروديادشوي عمل پرضد لويه مظاهره وکړه اودهمدې پيښې دعاملينودمحاکمې غوښتنه يې وکړه .

دجنوري په ۷مه يرغلګروځواکونودشپنيوعملياتوپه لړ کي دميدان وردګ ولايت دچک ولسوالۍ په بمبايوکلي کي د عامو خلکو په کورونو چاپه وهلې او څلور تنه کليوال يې له ځان سره دبنديانوپه توګه وړي دي .

دجنوري په ۱۱مه امريکايانو دهلمندولايت دمرکزلښکرګاه په بولان سيمه کي يو څلور کلن ماشوم په دې تورچي ګواکي مخالف جنګيالي دي شهيد کړی دی، همدغه پيښه د هلمند والي نعيم بلوڅ هم تائيد کړې ده .

دجنوري په ۱۳مه دکندهارولايت د ميوندولسوالۍ دسنګين درواهي په سمه کي يرغلګرواوداخلي عسکرويوسړی اويوه ښځه چي ددوی له قرارګاه سره نژدې تيريدل شهيدان کړي دي .

دجنوري په ۱۵مه اربکي ملېشود کاپيسا ولايت دتګاب ولسوالۍ په جوبيار سيمه کي يو ۱۴کلن هلک شهيد کړی دی .

دجنوري په ۱۵مه د تخار ولايت د درقد ولسوالۍ کي کورنيوعسکرودولسي خلګوپر کورونودچاپې په ترڅ کي لس تنه ملکي وګړي بنديان کړي دي .

دجنوري په ۱۵ مه اشغالګروځواکونوميدان وردګ ولايت د سيداباد ولسوالۍ د تنګي درې په دولت خيلو کلي کې د ضابط شربت خان په کور دچاپې په ترڅ کي دنوموړي کور ته ډير مالي تاوان رسولی اويوتن محصل يې دبندي په توګه ځني بيولی دی .

دجنوري په ۱۵مه يرغلګروځواکونودافغان عسکروپه ملتيادپران ولايت دسيا ګردولسوالۍ په وازغردرې کي دولسي خلګو پر کورونوبمبار کړی ،په دغه بمبار کي دښځواوماشومانوپه ګډون اته ويشت تنو ولسي وګړوته مرګ ژوبله اوښتې ده، سيمې ته دکابل اداري داستول شوي پلاوي مشراود ولسي جرګې غړي (عبدالستارخواصي) ازادي راډيوته وويل چي : «بهرني پوځيان دبې ګناه افغانانوژوندته احترام نه لري ،دسيادګردولسوالۍ په وازغردره کي يې ټوله شپه بمبارۍ کړې ،۱۷تنه ولسي وګړي پکي شهيدان شوي اويوشمېر ټپيان شوي . همدارنګه شپږاووه کورونه هم په دغه بمبار کي وران شوي دي ».خواصي وويل چي :بهرنيوعسکرو د تلاشي پر مهال دکورونودروازې هم په بمونوالوزولي اوخلګ يې ځوروولي دي .

دجنوري په ۱۲مه د ميدان وردګ ولايت د چک ولسوالۍ په قرباني سيمه کي ديرغلګرودبې پيلوټه الوتکي په بريد کي يوملکي سړی (زين الله د رحمت الله زوی) شهيدشوی دی .

دجنوري په ۱۷ مه داروزګان ولايت د چنارتو ولسوالۍ دشفلغ مانده په سيمه کي دداخلي عسکرودهاوان ګولۍ پر يو کورلګيدلې، يوه نجلۍ پکي شهيده شوې اوبله ژوبله شوې ده .

دجنوري په ۱۹ مه يرغلګروځواکونودشپنيوعملياتوپه لړ کي د ميدان وردګ ولايت دسيداباد ولسوالۍ د تنګي په رحمان خيلو کلي کي دولسي وګړي (احمدجان) په کور چاپه وهلې ،دتلاشۍ پر مهال يې په دغه کور کي هيڅ تخريبي توکي نه دي موندلي خومالي زيان ورته اړولی اودرې تنه ملکي هيوادوال (شفيع ، سيف الرحمن او رفيع)يې بنديان کړي دي .

دجنوري په ۱۹مه يرغلګروځواکونودهلمندولايت د ګرشک ولسوالۍ دقلعه ګز دريګن مانده په سميه کي دچاپې پرمهال درې تنه ولسي وګړي بنديان کړي دي .

دجنوري په ۲۰ مه دزابل ولايت د نوبهار ولسوالۍ په کرم خېل، چينو والواوفيض اباد سيمو کي يرغلګرواوداخلي عسکرودتلاشي په پلمه ولسي خلک ځوروولي اوپه پنځه تنه ولسي وګړي يې بنديان کړي دي .

دجنوري په ۲۰ مه دغورولايت د شينکوټ ولسوالۍ په تشتک سيمه کي اربکيانو پريوکوريرغل کړی او دوه تنه ولسي هيوادوال يې پکې شهيدان کړي دي .

دجنوري په ۲۰مه نيته دهلمندولايت دنوزادولسوالۍ دګورجستاني عسکروکمپ سره ځپرمه افغان عسکرودخبريالانوپه مخ کي يواووه کلن ماشوم وژلی، دهلمندولايت مدني ټولنې چې دغه پيښه يې له نژدې ځارلې وېلې چې يادشوی هلک په داسې حال کي په ننبه شوی چې عسکروته يې دسلام په دودلاس پورته کړی ؤ.

دجنوري په ۲۱مه رسنيودهلمنددچاروا کوله خولې خبرورکړچې د نهرسراج په الکوزوښاخ سيمه کي وسله وال مخالفين (طالبان) داختر محمد په نوم يو کس کورته ورغلي اودنوموړی په ګډون يې دهغه ميرمن اوماشوم زوی درې واړه دخوب پرمهال وژلي دي، دهلمنددامنيه قومانداني دمطبوعاتي امر سمونوال عبدالاحد چوپان په ويناطالبانوهمداکسان ددلت سره دهمکاری اوپه دې خاطروژلې چې په دغه سيمه کي دسفرمحمدپه نوم يوکس يوکال مخکې دطالبانوپرضدپاڅون وکړاودپوليسودلومړي کنډک په مرسته يې دغه سيمه له طالبانوتصفيه کړه.

ددې پيښې په سبادوژل شوي کس (اختر محمد)زوم عبدالولي دپيښه اصلي واقعيت په دې ډول روښانه کړچې : «زماخسر،خوانې اوکوچنی زوی يې طالبانونه دي وژلي، دوی په دغه کلي کي داربکيانودقوماندان سفرمحمدوراره او ساتونکي په ډيره بې رحمانه توګه وژلي دي».دهلمندولايتي چارواکو هم داربکيانوله لوري د همدې درې تنوولسي وګړو وژنه منلې ده، دوی ويلي چې ددغې پيښې عاملين به نيسي اودقانون منګونوته به يې سپاري ؟!.

دجنوري په ۲۱مه دزابل ولايت دشينکی ولسوالۍ په مرکزکي په سلهاووتنوقومي مشرانو،علماواوعاموخلګودارېکيانوپرضدمظاهره وکړه، لاريون کونکوچې(مردابادامريکا) نارې يې وهلې دکرزي درژيم ځخه وغوښته چې داربکيانوله شره يې خلاص کړي، دوی ويل چې اربکيانو دخلګودځورولواوتهديدولوسربيره اوس دوکانداران مجبورکړي چې دميأشتي زرزرافغانۍ ورکړي.ځه وخت مخکې يې داسحاقزي په نوم يوتن په همدې خاطرچې اربکيانوته يې پيسې نه ورکولې شهيدکړ،همدا رازخلګوداربکيانوځخه په دې هم شکايت کاوه چې قومي جنجالونه رامنځته کوي .

دجنوري په ۲۱مه دکاپيسا ولايت دنجراب وسوالۍ په افغانيه دره کي دداخلي عسکرودهاوان د ډزوله امله شپږتنه ولسي وګړي تپيان شوي اوبوه اته کلنه نجلۍ شهيده شوې ده .

دجنوري په ۲۲مه دهلمند ولايت د مارجې ولسوالۍ دسستاني په سيمه کې داربکيانو قومندان (عبدالمالک) يونهه کلن ماشوم شهيد کړی، همدغه پينښه دهلمندولايتي چارواکو هم منلې ده .

دجنوري په ۲۳مه اشغالګرو عسکرو د لوګر ولايت دبرکي برک ولسوالۍ د چلوزيو په مهمندو سيمه کې دچاپې پرمهال دوه تنه ولسي وګړي بنديان کړي دي .

دجنوري په ۲۴مه مابنام د غزني ولايت دګيلان ولسوالۍ په پيتاو کلي کې سيمه ييزو اربکيانو يو دوکاندار (بسم الله) په دې ګناه چې ولې په دوکان کې نشه يي توکي نه خرڅوي په وهلوکې شهيد کړی دی .وروسته بياخلګودګيلان په بازار کې دهمدې پينښې اودابکيانودنوروظلمونوپر ضدلويه مظاهره وکړه.

دجنوري په ۲۵مه د لغمان ولايت د الينګار ولسوالۍ په لوکاټ سيمه کې دداخلي عسکروپه مخامخ ډزوکې درې تنه ماشومان شهيدان شوي اويوبل ژوبل شوی دی ،همداکوچنيان په داسي حال کې وژل شوي چې په لوبوبوخت وو.

دجنوري په ۲۶مه د کندز ولايت د علي اباد ولسوالۍ په دوهم اودريم لاله ميدان سيمه کې داردوعسکرواواربکيانودخلګوپر کورونوچاپې وهلي ،دتلاشۍ پرمهال يې خلګوته مالي زيانونه اړولي، مبايلونه اونورشيان يې ځني وړي اودرې تنه ولسي وګړي يې بنديان کړي دي .

دجنوري په ۲۶مه دزابل ولايت د شملزو ولسوالۍ په مختلفوسيمو کې اربکيانوولسي خلک وهلي دوکانونو يې چور کړي، ددوکانونواو کورونوڅخه يې الکه افغانۍ، زيوارت اونورقيمتي شيان غلاکړي اوپنځه تنه کليوال يې هم له ځان سره دبنديانوپه توګه بيولي دي .

دجنوري په ۲۹مه د بدخشان ولايت د جرم ولسوالۍ په کيب کلي کې دداخلي عسکروپه ډزوکې درې تنه ملکي وګړي چې دوه يې ماشومان دي شهيدان شوي دي .

دجنوري په ۲۹مه د کاپيسا ولايت داله سای ولسوالۍ په مرکزي سيمه کې دکورنيوعسکرو د هاوان مرمۍ په يو کور را پرېوتي چې امله يې يو ملکي وګړی شهيد شوی اودوه تنه ژوبل شوي دي .

دجنوري په ۳۰ مه مابنام اشغالګرو عسکرو د ميدان وردګ ولايت د سيداباد ولسوالۍ د شنيز درې په صدو خيل کلي کې پرولسي خلګودچاپې پرمهال دوه ورونه (نجيب او حامد) او درې تنه ميلمانه يې چې د مور د فاتحې له پاره يې راغلي وو له ځان سره بنديان کړي دي .

مأخذونه :[بي بي سي راډيو،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک ،خبريال وېبپاڼه ،لراوبر= ،نن ټکی اسيا=اوبينوا=]

دجهاد فقهي مسايل

شپږمه برخه

مفتي ابو محمد" حقاني"

بيت المال

دبيت المال سالميت او فساد

لکه مخکې موچې ورته نغوته وکړه، دبيت المال مکان نه بلکې جهت معتبر دی ،همدا سې داهم دپټولو نده ،چې وو ايو چې بيت المال کله نا کله دځينو منافي عوارضو او نا جايزو جوهاتو په بناء له صحت او سالميت څخه دفساد خواته هم ځي ،دې صورت کې بيا دبيت المال دجوړښت اصلي غرض چې دمسلمانانو دمصالحو په نظر کې دي ،له منځه ځي او اصلي مقصود يې فوت کيږي ،دلته به هغه لاملونه وڅيړو ،چې له املې يې په بيت المال کې فساد رامنځته کيږي.

چې کله امام يا حاکم عادل وي، نو بيت المال له فساده بچ وي ،له خلکو څخه دبيت المال حقوق را اخلي او مستحقو خلکو ته يې ورکوي ،خو چې دوخت حاکم عادل نه وي، نو دخلکو نه به اموال په نا حقه را اخلي او يا به يې په حقه را اخلي ،مګر دمسلمانانو له مصالحو پرته به يې بل ځای او په غير شرعي وجه کې لګوي ،دبيلګې په توګه دبيت المال پيسې په خپلو شخصي مصالحو لګول ،يا په نا مستحقو اقربو او خپلوانو مصرفول ،همدا سې د بيت المال متولي يو نا انصافه او نا عادله شخص تاکل ،دا هم دبيت المال دتضييع هڅه ده، او هغه چې علامه شامي رح ورته نغوته کړي داده چې دا هم دبيت المال فساد دی ،چې دبيت المال ديوې خونې مال له بلې خونې سره خلط او ګډ شي، ځکه احناف دا دواجباتو څخه بولي ،چې دبيت المال دهر بيت يا خونې اموال به سره بيل بيل وي، که ګډ شي بيا دبيت المال فساد رامنځته کيږي ،چې دالموسوعې په لاندې عبارت کې چې همدا تشريح شوی مفهوم نغښتی دی:

يَكُونُ بَيْتُ الْمَالِ مُنْتَظِمًا إِذَا كَانَ الإِمَامُ عَدْلًا يَأْخُذُ الْمَالَ مِنْ حَقِّهِ ، وَيَضَعُهُ فِي مُسْتَحَقِّهِ. وَيَكُونُ فَاسِدًا إِذَا كَانَ الإِمَامُ غَيْرَ عَدْلٍ ..... وَمِنْ أَوْجُهِ فَسَادِ بَيْتِ الْمَالِ أَيْضًا مَا أَشَارَ إِلَيْهِ ابْنُ عَابِدِينَ: أَنْ يَخْلِطَ الإِمَامُ أَمْوَالَ بَيْتِ الْمَالِ الأَرْبَعَةِ بَعْضَهَا بِبَعْضٍ ، فَلَا تَكُونُ مُفْرَزَةً (ابن عابدين ۲ / ۵۲).

د بيت المال دفساد په صورت کې پرې مرتب احکام

کله چې بيت المال کې دمذکورو وجوهاتو په اساس فساد رامنځته شو ،نو لاندينې احکام پرې مرتب کيږي الف: که چيرته پريوه شخص دبيت المال حق تثبيت و ،خو دده هم دبل کوم جهت څخه بيت المال کې حق جوت و ،مګرچايې حق نه ورکاوه ،دا شخص کولای شي چې دخپل حق په اندازه دبيت المال څخه حق ځانته ستون کړي ،خوکه بيت المال کې يې حق نه و ،خو پرده دبيت المال حق و ، دبيت المال دفساد په صورت کې دا شخص مذکورکولای شي ،چې دبيت المال حق دبيت المال په مصارفو کې لکه دجومات يا رباط جوړولو غوندې ځايونوکې مصرف کړي ، ب: که چيرته ديوچا بيت المال کې حق و ،سلطان يې حق نه ورکاوه او دا پدې کامياب شو ، چې له بيت المال څخه خپل حقوق ترلاسه کړي ،نودځينو فقهاوو له نظره يې جواز شته .چې دامام غزالي رح له څلورو اقوالو څخه يو قول همدا دی ،دويم قول يې دادی چې هره ورځ خپل خرڅ يا قوت له بيت المال څخه اخستلای شي ،دريم قول يې ،دکال کفايه هم له بيت المال څخه اخستلای شي ،څلورم قول يې دادی چې بې له اجازې هيڅ شئ هم نشي اخستلای ، مالکيان بيا وايي چې له بيت المال څخه په هيڅ صورت کې چې سالم وي که فاسد غلا نده روا ،خوداحنافو نظر دادی چې ديانةً خپل حق له بيت المال څخه پداسې حالاتوکې اخستلای شي ،مګر دبيت المال له هغې خونې به يې اخلي ،چې چيرته دده حق پکې جوت دی، البته دضرورت پر وخت ،لکه نن سبا يې له بلې خونې هم اخستلای شي ،ځکه دبيت المال ټولې خونې سره مختلطې شوي دي ،او دده داستحقاق خونې ته انتظار کول ناشونې دي لکه چې علامه ابن عابدين شامي رح پرې فتوی هم ورکړي ده

أَنَّ لِمَنْ عَلَيْهِ حَقًّا لِبَيْتِ الْمَالِ - إِذَا لَمْ يَطَّلِعْ عَلَيْهِ - أَنْ يُمْنَعَ مِنْ ذَلِكَ الْحَقِّ بِقَدْرِ حَقِّهِ هُوَ فِي بَيْتِ الْمَالِ .....الى ان قال: إِذْ لَوْ لَمْ يَجُزْ أَخْذُهُ إِلا مِنْ بَيْتِهِ لَزِمَ أَنْ لا يَبْقَى حَقٌّ لأَحَدٍ فِي زَمَانِنَا ؛ لِعَدَمِ إِفْرَازِ كُلِّ بَيْتٍ عَلَى حِدَةٍ ، بَلْ يَخْلِطُونَ الْمَالَ كُلَّهُ. وَلَوْ لَمْ يَأْخُذْ مَا ظَفِرَ بِهِ لَمْ يُمْكِنْهُ الْوُصُولُ إِلَى شَيْءٍ ، كَمَا أَفْتَى بِهِ ابْنُ عَابِدِينَ (العذب الفائض ۱ / ۱۹).

پر بیت المال تیری کول

فقهاء پدې اختلاف نلري ،چې که چا دبیت المال کوم شئ نا حقه تلف کړ ،دتلف شوي مال ضامن به وي ،همداسې که په نا حقه یې کوم مال ترې واخست ،بیرته یې ورکول پرې لازم دي ،که مثلي و ،مثل به یې ورکوي ،که قیمي و ،قیمت به یې ورکوي ،دا اتفاقي خبره ده ،اختلاف صرف پدې کې دی ،چې دبیت المال نه دغلا کوونکې لاس پریکول څه حکم لري ،دحضرت ابن عباس τ دروایت او حضرت عمر τ دحکم په استناد احناف ،شوافع او حنابله وایې :چې دبیت المال څخه دغلاکوونکې شخص لاس غوڅول نشته ، خو مالکیان دسرقې د آیت دعموم په استناد وایې چې دبیت المال له غله څخه هم قطع الید شته لکه دالموسوعې په لاندیني عبارت کې راغلې:

وَلَهُمْ فِي ذَلِكَ اتِّجَاهَانِ: أَحَدُهُمَا - وَإِلَيْهِ ذَهَبَ الحَنَفِيَّةُ وَالشَّافِعِيَّةُ وَالحَنَابِلَةُ: أَنَّ السَّارِقَ مِنْ بَيْتِ المَالِ لَا تُقْطَعُ يَدُهُ..... وَثَانِيهِمَا وَإِلَيْهِ ذَهَبَ المَالِكِيَّةُ أَنَّ السَّارِقَ مِنْ بَيْتِ المَالِ تُقْطَعُ يَدُهُ .....

دبیت المال دمصرف لومړیتوبونه

دامام مالک رح او امام شافعي رح دمذهب دعلماوونظر دادی، چې دبیت المال په مصرف کې دحضرت عمر τ داقتداء په اساس مستحب داده ،چې درسول الله ρ اولادې ته لومړی د(دیوان العطاء) څخه عطایا ورکړل شي ،بیا وروسته واجب داده ،چې دسیمې داوسیدونکیو په مصالحو لکه دجوماتونو په جوړیدو ،سرحداتو کې داستحکامې مورچلونو په تعمیر ،دقاضیانو او مؤذنینو په روزي ،ددوئ دپورونو په خلاصیدو او دجنایاتو په دیتونو او هم ددوئ په کلنۍ کفایه ولګول شي ،اوکه چیرته ددې سیمې یا ښارچې بیت المال حقوق ورکوي ،فقراء پکې کم وو ،نوڅه به دوئ ته او نور به بیا بل ښار ته یوسي. حنابله وایې چې که چیرته بیت المال کې ددوو حقوقو ګنجایش نه و ،نو هغه ته دې ترې ورکړي، کوم چې په بیت المال پور وي ،لکه دعسکرو معاشات یانفقات ،اوددوئ وسلې او نور تجهیزات او دا نور مصالح دې وروسته کړي لکه د(ابو یعلی په احکام السلطانیه) کې داسې راغلې :

يَرَى المَالِكِيَّةُ وَالشَّافِعِيَّةُ أَنَّهُ يُنْدَبُ البَدْءُ بِالصَّرْفِ لِآلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِينَ..... ثُمَّ بَعْدَ ذَلِكَ يَجِبُ البَدْءُ بِمَصَالِحِ أَهْلِ البَلَدِ الَّذِينَ جُمِعَ مِنْهُمُ المَالُ ، كَبِنَاءِ مَسَاجِدِهِمْ وَعِمَارَةِ ثُغُورِهِمْ..... الأحكام السلطانية لأبي يعلى ص ٢٣٧ .).

لکه مخکې مو چې وویل امام به بیت المال کې هر ډول مشروع تصرف کولای شي ،خو دامام برخورد به له بیت المال سره داسې وي ،لکه ولي چې دیتیم له مال سره کوم منزلت لري ،اودا ډول منصفانه اوله بنیګنې ډک برخورد ورسره کوي ،لکه چې حضرت عمر pفرمایي: ما خپل ځان ددې مال په موردکې دیتیم دولي په منزله نازل اوګڼلی ،نوددې تصرف به داسې وي، لکه یو ولي چې دیتیم په مال کې کوم ډول تصرف کوي ،همداسې به په بیت المال څارهم کوي او هم به یې په تکثراو ډیروالې کې هم ژورفکرکوي او دخیرکوشش به یې کوي ،لکه دالمکتبة الشامله دې عبارت کې:

وَالقَاعِدَةُ فِي ذَلِكَ أَنَّ مَنْزِلَةَ الإِمَامِ مِنْ أَمْوَالِ بَيْتِ المَالِ مَنْزِلَةُ الوَلِيِّ مِنْ مَالِ اليَتِيمِ ، كَمَا قَالَ عُمَرُ بْنُ الخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: إِنِّي أَنْزَلْتُ نَفْسِي مِنْ هَذَا المَالِ مَنْزِلَةَ وَلِيِّ اليَتِيمِ(١). فَلَهُ فِيهِ مِنَ التَّصَرُّفِ مَا لِوَلِيِّ اليَتِيمِ فِي مَالِ اليَتِيمِ.

بیت المال کې دعامل ،عاشراو حکومتي مامور دحقوقو څومروالی

